# د بهار خاوره

د هندوستان د شمال لویه ښېرازه زمکه چې په ختیځ کې یې بنګال په جنوب او لوېدیځ کې اړیسه، اتر پردېش او د مدهیا پردېش ایالتونه دي او شمالي څنډې یې د نېپال سره لګي بهار (بي هار تلفظ) نومېږي. ددی مرکزي ښار پټنه نومېږي. بهار یا ویهار په هندي کې معبد ته وايي او ددی نوم علت ښاي هغه په سوونو بودهاي عبادت خاني وي چې د ګیا په سیمه کې د مهاتما ګوتما بودها له مړینې وروسته جوړې شوې. په بهار کې ګیا (اوس ورته بوده ګیاوايي) د پټنې نه ۹۲ کلومیټر شمال ختیځ کې هغه ځای دی چې مهاتما بودها پکې د [illegible] د بوټي ونې لاندې عبادت [illegible] چارچاپېره په لویه ساحه کې

---

د هندوستان پښتانه

ل په زرګونو د بودها
ـه چې بودهاي منونکي
ـا د هغې ونې د یوې
ایرینو د اصل ونې نه
وا د ګوتما منونکي به
ساکهي (اپریل، مې) په
ی په څوارلسمه شپه به
ورځې ته د نروانه نوم
ـوه کاله پخوا داسیمه
ـې پکې د هند د موریه
دوی نامتو باچاهان
ا باچا د افغانستان په
لري. اشوکا د بودهاي
ـس سټوپې جوړې کړې
ـکې شوې. دده یو ډېر
ندهار ومونډل شو چې
ښې دې. په بهار کې د
نتون و چې څو پېړۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دولسمې او دیارلسمې میلادي پېړیو کې د ترکانو د حملو سره دا سیمه په زوال شوه او نالنده پوهنتون ورک شو. په څوارلسمې او پینځلسمې پېړیو کې بهار د افغانانو لاس ته ولوېدو او د خلجیانو (غلجیانو) او لودي واکمنو وساتلو. بیا شاه خوا سل کاله د شېر شاه سوري او دده د زامنو سره و تر څو مغل پرې برلاسي شول. دوه سوه کاله وروسته کله چې دا د مغلو نه د انګرېزانو ونیولو نو هغه پخواني عبادت ځایونه او مقبرې په کنډوالو اوختې وې. په نولسمې پېړۍ کې یو انګرېز لرغون پوه جارج کننګهم د اشوکا باچا له خوا جوړه لرغونې ستوپا بیا وموندله او ورو ورو ددې سیمې د لرغونې تاریخ ماتې کړې یو ځای کړې شوې.

د هند د وېش نه وروسته د بهار جنوبي برخه ترې بېله کړی شوه او د جهاړ کهنډ په نوم یې بل ایالت جوړ کړو. دلته اوس وویشت میلیونه خلک ژوند کوي. ددې شنې زمکې په ډېرو سیندونو خړوبېږي، چې ګنګا، سون باګ متي او کوسي نومېږي. ددې ځای غرونه راج ګیر نومېږي. د بودها منونکو لپاره د



ځلورو سپېڅلو ځایونو کې یو بوده ګیا هم دې چې د دوی لپاره ورتلل یې فرض دي. دغسې په اتلسمې پېړۍ کې د سیکانو لسم مذهبي مشر ګورو ګوبند په پټنې کې زېږېدلی و نو اوس د سیکانو لپاره هم دا ځای د مذهبي اهمیت وړ دی. دلته د بېلا بېلو مسلمان واکمنو پر وخت د اسلام خپرولو کار دیني علماو کړی دی او د تصوف دځینو مهمو لړیو زیارتونه پکې شته دی. یو وخت دلته د اسلامي زدکړو لپاره به د هند او نورو هېوادونو نه خلک ورتلل او د علمي کتابونو د لیکلو اولوست لپاره یې شهرت لاره.

بهار څو سوه کاله د هند په لویه وچه کې د یو مهم مذهبي اوکلتوري مرکز په توګه پېژندل کېده، خو د هند د نورو سیمو په پرتله په اقتصادي توګه وروسته پاته دی. حکومت اوس هڅه کوي چې دا د یو کلتوري مرکز په توګه نړۍ ته وروپېژني او اوس هر کال بوده ګیا ته په زرګونو بودهاي د زیارت لپاره ورځي. د هندوستان د پښتنو په اړه د بهار په سفر کې مې ډېر خلک او ځایونه ولیدل، خو دلته د علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړنو لپاره ډېر څه اوس هم نه دي سپړل شوي.

ددې کتاب لپاره مې د شېر شاه سوري په اړه لیکلي څو کتابونه او بې شمېره نور اسناد ولوستل او داسې راته څرګنده شوه چې په شپاړسمې پېړۍ کې د مغلو په امر چې څه ولیکل شول ، هم هغه تر اوسه د یو کتاب نه بل ته کډه کوي. مغلو شېر شاه ته د غاصب په سترګه کتل چې د بابر زوی همایون یې ایران ته په تېښته مجبور کړی و. د همایون د زوی اکبر په دور کې څو تاریخونه ولیکل شول په هغی کې دده پر ضد د تعصب نه کار اخستل شوی دی او کالکارنجن قانون ګو چې دوه واري یې په شېر شاه څېړنې وکړې، دې وینا ته مجبوره شو چې ابوالفضل د پښتنو نه کرکه کوله.

له نېکه مرغه د پېښور پوهنتون د تاریخ استاد ډاکتر حسین خان په ۱۹۸۷ م کې د خپل تقاعد نه وړاندې د شېر شاه د ژوند او د هغه د پینځه کلنې دورې په اړه څېړنې په کتابي شکل چاپ کړې او د هغه وخت له ډېرو پېښنو یې پرده لیرې کړه. دده د څېړنو اساس هغه اسناد او قلمي نسخې وې چې د بېلا



بېلو کتاب خانو کې یې وموندل. د ۲۰۰۲ م چاپ د بشیر احمد خان متہ کتاب د شېر شاه د وخت سیاسي حالات تحلیل کړي دي، چې د څېړنو لپاره یې راسره مرسته وکړه. په سیمه کې د بهار د پښتنو په اړه هلته راته هر چا ډېر په جوش معلومات راکول او ما دپاره د افسانو نه حقایق بېلول ګران کار و، په تېره بیا هغو ټولو کلو باندو ته ورتګ چې د پټنې نه هم د سوونو کلومیټرو په فاصله کې و، خو خپل زیار مې ایستلی چې د لیکلي او شفاهي تاریخ تر منځ توله برابره وي. دا کتاب د هغو لوستونکیو لپاره دی، چې د تاریخ مضمون ورته بې خونده ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سوریانو سفر

د اریایانو په وېدي سندرو کې د دریو سیندونو نومونه (کرومو، گوماتي او یویواتي) دي چې په شلمې پېړۍ کې لرغون پوهانو د کورمې، گومل (گوملـه) او د ژوب د سیندونو په توگه وپېژندل. د گومل سیند د غزني له لوړو چینو راوځي او په دوو لارو د سلیمان د غرونو ختیځ ته را بهېږي. دا سیند د وزیرو د سیمې نه په تېرېدو د ډېره اسمعیل خان جنوب لوري ته د لوني او کلاچي سره سره په اباسین کې ورگډ شي. د کورمې سیند د سپین غر جنوب نه راوځي او د بنو په شمال کې له عیساخېلو سره په اباسین کې یو ځای کېږي. د ژوب سیند پخپله د سلېمان د غرونو نه راوځي او کجورۍ سره د گومل



سیند سره یو ځای شي. په ویدي سندرو کې ددې درې واړو سیندونو ذکر ښیي، چې اریایان په دې سیمه کې مېشت واو کیدای شي چې ځینې ډلې یې وروسته له دې ځایونو پنجاب ته تللې وي.

له لرغونو زمانو راهیسې شپانو او کوچیانو به تل په داسې لارو تگ کاوه، چې د سیند نه به ډېر لرې نه و. د سیند اوبه د ژوند د ژغورلو هغه وسیله وه چې انسان یې تراوسه خپل تابع ساتلی دی. که دغه کوچیان د گومل له سیند سره سره له غزني روان شول نو وروستی پړاو به یې له ډېره اسمعیل خان سره نږدې اباسین و. د گومل شمال لوري ته وزیر او جنوب ته یې د ژوب سیمه ده. هاخوا د کندهار نه ورتلونکیو ته به د ژوب د لارې اباسین ته لاره لنډه وه.

د گومل وادي درې زره کاله پخوا ښې شنې درې لرلې او په وزیرستان کې د یوې غونډۍ د پاڅه د یو یوناني کلا اثار هم موندل شوي و. ښایي باختر یوناني دور کې دلته یا پوځ ساتل کیدو او یا به پوره ښار اباد و. د تگ او راتگ دا پخوانۍ لارې تر لسمې پېړۍ د تجارتي قافلو او پوځي لښکرو دواړو له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاربېدې. غوري او غزنوي لښکرې هم له دې لارو هند ته ورتللې، تر دې چې په اتلسمې میلادي پېړۍ کې احمد شاه ابدالي هم پنجاب ته د لنډه ورتلو لپاره زیات وخت په همدې لاره تللی راغلی و.

په اوومې میلادي پېړۍ کې شنسب بن حریق د غور د قبایلو مشر او له پل قام سره یو ځای یې د اسلام دین منلی و. دده اولادونه افاغنه شنسب په نوم یادېږي چې پکې لودي او سور ټبر شامل و. د شنسب په شپږم کول کې ملک محمد سور د لسمې میلادي پېړۍ په پای کې د غور لومړی امیر شو. د غوردغرونو نه وراخوا په غزني کې هغه وخت ترکانو د خپل سلطنت بنسټ ایښی و، خو غوریانو ورته سرټیټ نه کړو تر دې چې سلطان محمود په غور حمله وکړه او امیر محمد سور یې له څو ملګرو سره ونیولو، غزني ته یې یوړو او هلته یې د "نې" په کلا کې بند کړل. وروسته ده پخپلې ګوتمۍ کې پټ زهر وخوړل او په بند کې مړ شو. دده ملګري شیخ اسعد سوري چې له محمد سوري سره یې نیولی و، د هغه په مړینې یوه مرثیه ولیکله چې په پټه خزانه کې راغلې او څو



بېته یې داسې دي.

نه له غرجه بیا راځي کاروان د مشکو
نه را درومي غور ته بیا جوپې د شار.
دا په څه چې محمد ولاړ له نړیه..
په ویرنه یې سو غور ټول سوګوار

د امیرمحمد سور نه وروسته علاوالدین او ورپسې غیاث الدین د غور باچاهان شول. که څه هم په لسمې پېړۍ کې محمود غزنوي اتلس وارې د پنجاب او د هند په خاوره پوځ وړی او په هنډ او ملتان کې یې خپل والیان ټاکلي ول، خو په هند کې د یو اسلامي حکومت پلاز مېنه په لومړي ځل دغور واکمن جوړه کړه. معیز الدین محمد بن سام په دولسمې میلادي پېړۍ کې د شهاب الدین محمد غوري په نوم په ډیلي کې د مسلمانانو د لومړي سلطنت اساس کېښود. په ۱۲۰۶ میلادي کال کې دی د جهلم سره نږدې پخپله خېمه کې د سیمې د کهوکرانو له خوا ووژل شو او دده مړی یې د ګومل د لارې غور ته یوړو.

د پینځلسمې پېړۍ له پېل سره د مالوې والي دلاور خان چې د غورنه ورغلی و، د ډیلي د ترک باچا نه بېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوخپلواکه حکومت یې جوړ کړو. دده زوی هوشنګ شاه یو نوی ښار د "مانډو" په نوم اباد کړو او دلته یې ډېرې ودانۍ جوړې کړې، چې ځینې یې تر اوسه پاتې دي.

له څوارلسمې پېړۍ راهیسې د غور او د غزني نه هند ته د تجارتي قافلولاره هم په ګومل وه. په پینځلسمې پېړۍ کې د سلېمان له غرونو لودیانو په پنجاب اومرکزي هند کې خپل پوځي چاونۍ جوړې کړې وې. ددې پېړۍ تر وروستۍ لسیزې بهلول لودي په ډیلي کې دېرش کاله په کامیابۍ حکومت وکړو. د سلیمان د غرونو هغه څنډه چې د ګومل سیند غاړې ته غزېدلې دي، د زغرې په نوم یادیږي. دا سیمه ملتان سره د نږدې والي له امله په سرایکي ژبه کې "روهړي" بلل کېږي. د پنجاب نه راغلي مسافرد ډیلي د باچا بهلول لودي د حکومت خبرونه په زغرې کې د قام مشر ابراهیم خان ته هم راوړل. ډېرو خلکو هلته د پوځي ژوند له لارې خپلوکورنیو ته نفقه رالېږله، نور د ښېرازو زمکوخاوندان شول او په قام کې د سیالۍ شول.



په ۱۴۸۲ م کې د زغرې ابراهیم خان هم فکرکوي چې د متېو زور خو لري، نو د ورتګ فیصله کوي او له خپل زوی سره، چې حسن خان نومېږي د پنجاب د نارنال نومې سیمې ته ورځي. هلته د مهابت خان سوري چې د یو بل سوري سردار داود شاهو خپل خپلوانو نه و، په کور کې څو ورځې تېروي. دده نه د سیمې د نورو پښتنو په اړه معلومات اخلي او په حصار فېروزه کې یو بل افغان جمال خان سارنګ خاني ته د ملازمت لپاره ورځي. جمال خان دده صلاحیتونو ته په کتلو ورله په نارنال کې څوکلي د پرګنې په توګه او د څلوېښتو سپرود ساتلو دنده ورسپاري. د بهلول د حکومت پر وخت افغانانو لپاره د پوځي خدمتونو نه پرته په نورو کارونو بندیز و.

ابراهیم خان په لږه موده کې د پوځیانو د روزلو او د سپرو ډلو په تنظیم کې نوم وګټلو اوحصار فېروزه ته یې کډه وکړه. حصار فېروزه هغه وخت د پنجاب یوه غښتلې پوځي چاونۍ وه او هلته ابراهیم خان ته د پوځي قطعې د جوړولو کار وسپارل شو. حسن هم پوځي خدماتو ته ملا وتړله اود بهلول لودي یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجپوت سردار راې مل د ده مسلکي مشر و.

زياتو تاريخونو دا اندازه لګولې ده، چې په ۱۴۸۲ م کې په حصار فيروزه کې د حسن د مشرۍ مېرمنې زوی وزېږيده. ده ته نيکه د فريد خان نوم غوره کړ. وروسته دې ماشوم د شېر شاه په نوم په هند حکومت وکړ. ميا حسن په خپل استعداد د بهلول لودهي نږدې اميرانو په نظر کې راغې. په دوی کې يو تن عمر خان سرواني کاکبر نومېده، چې بهلول ورته د خان اعظم خطاب ورکړی و او د لاهور د ټولو قطعو مشر و. حسن يو څه موده له ده سره او بيا له جمال خان سارنګ خاني سره کار کاوو. فريد د وړوکي عمر نه په پوځي چاوڼيو کې هر ډول خلک ليدلي او دده ذهن به ورباندې اغېز من شوی وي.

بهلول لودی پخپل ژوند کې د خپلې دوهمې مېرمنې زوی نظام خان د راتلونکي باچا په توګه وټاکلو. په ۱۴۸۹ م کې د بهلول د مړينې نه وروسته د هغه مشر زوی سلطان مبارک شاه ددې فيصلې نه سرغړونه وکړه او د باربک شاه په نوم يې په جون پورکې ځان باچا اعلان کړو. د بهلول يو ورور عالم خان هم پر تخت دعوا لرله او په کړه مانک پور کې د



سلطان علاوالدين په نوم يې ځان د هند د باچاهانو په توګه اعلان کړو. نظام خان د سکندر لودي په نوم د ډيلي پر تخت کښېناستو، نو ورور يې پخلا کړو خو وروسته يې ترې د جون پور سيمه واخيسته او جمال خان سارنګ خاني (لودي) ته يې په دې شرط وسپارله، چې دده لپاره به پکې دولس زره تربيه شوی پوځ ساتي.

جمال خان هغه وخت د حسن خان له کاره ډېر راضي نو جون پور ته د ورتللو وړاندې يې هغه ته په نارنال کې لوی منصب ورکړو. په نارنال کې د ابراهيم خان د مړينې وروسته د هغه پوځي قطعه هم حسن خان ته وسپارل شوه.

په ۱۵۰۷ م کې سلطان سکندر لودي د ګواليار سره نږدې د اوانت ګړه د کلا نيولو لپاره پخپله د پوځ مشري وکړه. ددې کلا په حصارونو د دفاع لپاره راجپوت جنرال دا سيستم جوړ کړی و، چې لودي پوځ که په هر يو حصار د ورختلو لپاره چپاو وکړ، نو هلته ولاړ يو کس به صرنا (ناقوس) وغږاوه او د نورو حصارونو نه به ورته کومک راورسېدو.

کله چې سکندر لودي خبر شو نو خپل سپه سالار ته

یې وویل زمونږ په پوځ کې به داسې کوم کس وي چې د غشي په ویشتلو صرنا غږونکي ددې کارمخه ونیسي؟. د داسې کس لټون وشو او سلطان سکندر ته وویل شول، چې د ابراهیم سور زوی میا حسن یو تکړه غشي ویشتونکی و. د باچا په امر حسن د حصار د پاخه ولاړ صرنا غږوونکي وخارلو او د لودیانو د حملې پر وخت یې په یو غشي هغه په سینه وویشتو. د اوانت گړه کلا د حسن په پوځي مهارت د سلطان لاس ته ورغله او ددې د انعام په توگه یې ورته د بهار د سهسرام او د ټانډه د پرگنو انتظام وروسپارلو. له دې سره ورته د پینځو سووسپرو منصب هم ورکړی شو.

حسن ددی پرگنو چارې دومره په ښه ډول سر ته رسولې، چې دلته د اسونو د روزنې او د اسلحې د جوړولو کار هم پیل شو. هغه د سیمې له راجپوت خلکو سره ملگرتیا جوړه کړه. د جگدیش پور او د اجېن مشرانو د حسن خان په مرسته د خپلو حریفانو نه خپلې بایللې زمکې او کلي بېرته تر لاسه کړل.

د حسن خان څلور مېرمنې وې، چې یو اځې د فرید او نظام خان مور پکې پښتنه وه. د ځینو تاریخونو له



مخې د سلیمان او احمد مور ورته گرانه وه او داسې ښکاري، چې د حسن د مېرمنو تر منځ د بنو سیالي او کینه د دښمنۍ تر حده ورسېده. فرید خان د خپلې مور تر اغېز لاندې او یا ښایي په کور کې د ناندریو د لاسه د سهسرام نه جون پور کې جمال خان سارنگ خاني ته ولاړو. دکور نه دده تگ د حسن په صلاح او مشوره نه و شوی او حسن خان چې خبر شو نو د معذرت یو لیک یې جمال خان ته واستاوه او د هغه نه یې خواست وکړ، چې فرید خان دې بېرته کور ته ورواستوي، خو په لیک کې یې دا هم وویل چې که فرید بېرته کور ته ورتلل نه غواړي، نو په جون پور کې دې دیني زده کړې وکړي او جمال خان دې فرید د خپلو وزرو لاندې ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه

۱. د وزیرستان د پولې سره د لرغونو توکو په لټه یو سفر. سر اورېل شټاین. ۱۹۲۷ م مضمون. جغرافیایي ژورنال ۱۹۲۸ م داپرېل ګڼه شاهي جغرافیې د ټولنې مجله. لندن چاپ.

۲. پټه خزانه. محمد هوتک بن داود. د پوهنې وزارت. دوهم چاپ. ۱۳۳۹ه،ش. کندهار. ۳۸ مخ

۳. لودي پښتانه. عبدالشکور رشاد. د پښتو ټولنې د تاریخ او ادبیاتو څانګه. ۱۳۳۲ ه.ش. ۱۱۴ مخ

۴. شېر شاه سوري. داکټر حسېن خان. فېروز سنز لاهور ۱۹۸۷م ۴۰، ۴۵ ، ۵۴، ۵۵، ۵۲ مخونه

۵. شېر شاه سوري، یو نوی تحلیل. بشیر احمد خان متېه. اکسفرډ پوهنتون خپرونې. ۲۰۰۲ م. مهران چاپ کراچی. ۳۸ مخ



## د فرید نه شېر خان

په ډیلي کې پرانه کلا د سېلانیانو لپاره په زړه پورې ځای ګڼل کېږي. دا د مغل باچا همایون له خوا جوړه شوه، وروسته شېر شاه پکې ترمیم وکړواو یو جومات او یوه ګول ودانۍ، چې شېر منډل نومېږي، یې پکې ورزیات کړل. ددې د شمالي لویې دروازې د پاڅه په مرمرو کې یو سړی ښودل شوی دی، چې له زمري سره جنګ کوي اودا د هغې پېښې لمانځنه ده، چې فرید خان ته د زمري په وژلو د شېرخان لقب ورکړی شو. په دې اوس هم اختلاف شته، چې دا خطاب به هغه ته چا ورکړی وي؟ په بنګال او بهار کې زمري نه وي، هغه د پړانګ او د شرمښ وطن دی. او دا ضرور هم نه ده، چې د یو زمري وژنه دچا لقب شي. د مغلو په تاریخ کې د شېر خان لقب ډېرو نورو پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د دوی په مېړانه ورکول کېده. داسې ښکاري چې د فرید خان زړه ورتوب او خطر ته ځان ورکولو په صفت ورته دا نوم ورکړی شوی وي. په راتلونکي ژوند کې ددې نورې ښېلګې موندل کېږي، خو فرید یوائې د تورې او د جنګ مېړنی نه و. ده د خپلې ځوانۍ وختونه په جون پور کې په زده کړو تېر کړل.

جون پور د اتر پردېش د ایالت د بنارس نومي ښار په شمال لوېدیځ کې د ګومتي سیند په دواړو غاړو آباد دی. دا په لومړي ځل د ترک واکمن فېروز شاه تغلق پر وخت په ۱۳۸۸ م کې د مسلمانانو لاس ته ولوېده. د تیمور د حملې پر وخت (۱۳۹۸ م) کې د ترکانو حکومت دومره کمزوری شو، چې د جون پور والي ملک سرور له خپل فرزندي زوی سره یو ځای د خپلواکه سلطنت اعلان وکړ، چې په تاریخ کې د شرقي سلطنت په نوم یادېږي. دا سلطنت په شمالي هند کې یو لوی پوځي ځواک لاره او ځو واري د ډیلي واکمن ته ګواښېدلی و. دلته د هندوانو او مسلمانانو تر منځ ډېرې ښې اړیکې وساتل شوې، ځکه ملک سرور پخپله د هندو نه مسلمان شوی و.



په ۱۴۸۰ کې د ډیلي سلطان سکندر لودهي په جون پور حمله وکړه او دا یې تر لاسه کړو. د شرقي سلطنت واکمنو تر ډېرو کلونو ځو واري هڅه وکړه، چې دا سیمه بیرته د پښتنو نه واخلي خو په اخره کې ناکامه شول. که څه هم د شرقي دورې ځینې اثار اوس هم پاته دي، چې پکې جامع جومات او د لال دروازې جومات شامل دي. د لودهیانو په حکومت کې جون پور له پوځي فعالیتونو سره سره د اسلامي کلچر او د تصوف یو مرکز هم و.

فرید چې په سهسرام کې د خپل کور نه جون پورته ولاړو، نو هلته یې په یوه مدرسه کې دیني زده کړې پېل کړې. ده عربي صرف و نحو (ګرامر)، چې د قاضي شهاب الدین تبصرې ورسره لیکلې وې ولوستل، خو د هغه لپاره په زړه پورې د تاریخ او د فلسفې دکتابونو مطالعه وه. د فرید په ژوند کې دا دوره د تصوف، او د زده کړې یو داسې پړاو و، چې په راتلونکي کې یې دده په شخصیت ژورې اغېزې وکړې. د حسن خان ملګري او خپلوان چې به جون پور ته ولاړل، نو د زوی خبر به یې ورته راوړو. ځینو به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پوهې او علم له صفتونو سره حسن خان ته پیغور هم ورکړو، چې داسې با استعداده زوی یې له ځانه لرې ساتلی و. نورو به ویل چې د سور په ټبر کې داسې هلک چرې نه و زیږېدلی. نورو به حسن خان ته مشوره ورکوله، چې فرید ته دې د پرگنې انتظام وسپاري، ځکه هغه ددې وړ و.

همدا وه چې حسن خان د فرید د زده کړو په پای کې هغه ته د سهسرام او د ټانډه د پرگنو انتظام وسپارلو. د سهسرام ټوله سیمه ۴۰۰ مربع میله وه.

داسې ښکاري، چې د جون پور تعلیم د فرید خان په فکر او فلسفه لوی اغېز کړی وي. دی د زده کړې په اهمیت خبر شو او ده د خپل نیکه ابراهیم، چې د پنجاب په نارنال کې ښخ و، مقبرې سره نږدې د ډېرو پیسو په لگښت یوه شانداره مدرسه جوړه کړه. په دې مدرسه ددې د جوړېدو کال ۹۲۷ ه.ق لیکل شوی دی، چې له ۱۵۲۰ م سره سمون خوري.

دوه یا درې کاله فرید د سهسرام په انتظام کې بریالی و. ده د ژبو نه علاوه د ریاضي علم هم زده کړی



و او د زمکو د مالیو او د لگښت په اړه پوره پوره معلوماتو سره یې اداره وچلوله. خو په ۱۵۲۳ م کال کې حسن خان نابېره دی له پوځي ملازمت نه لیرې کوي او د سهسرام نه یې شړي. زیاترو تاریخونو کې لیکل شوي دي، چې پلار یې دا فیصله د خپلې نازولې ښځې (د فرید د مېرې) په لمسون وکړه، ځکه چې هغه په حسن زوره وره وه او اوس د هغې زامن هم ددې جوگه ول، چې پرگنه ورته وساتي.

خو د تواریخ دولت شېر شاهي تاریخ افغانیه (۱۵۴۸) لیکوال حسن علي خان، چې د فرید خان نږدې ملگرو نه و، د زوی او د پلار ترمنځ داړیکو د خرابېدو سبب دده د مینې کیسه گڼي. دی وایي. "په سهسرام کې دده د سیوري لاندې ډېر خلک راټول ول. په دوی کې د مارواړ یو کهشتري (د برهمني ټولنې د دوېمې طبقې غړی) جې سنگهه نومیده. د هغه یوه ښکلې نازکه لور وه، چې مخ یې لکه د سپوږمۍ او د فرشتو په څېر و. یو ځلې زه له فرید سره یوځای په اس روان وم، د خپلو کارونو نه وروسته د جې سنگهه د کور مخې نه تېرېدو د سختې گرمۍ او د سور لمر له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبله ستړی او تږی و. مونږ دده (جې سنگهـ) له کوره اوبه وغوښتې. دی فرشته مخې اوبه راوړې او تنده مو پرې ماته کړه.

فرید دده د حسن تر اغېز لاندې راغی او زړه یې په قابو کې پاتې نشو. ما ورته ډېر نصیحتونه وکړل، خو دی به هره ورځ ددې سپوږمۍ مخې کور ته ورتلو او تش د هغې په دیدن به خوشحاله و. کله چې جې سنگهـ ددې معاملې نه خبر شو، نو دې غېرتي راټهور (د راجپوت قام یو خېل) د خپل ملک نه د وتلو فیصله وکړه. فرید خان چې خبر شو، نو دده د وتلو نه وړاندې یې د هغه لور خپل کور ته بوتله او دی پې مخې سره یې واده وکړو او جې سنگهـ یې پخپل کور کې بند کړو. هغه په ظاهره د فرید اطاعت وکړو او ورته ویې ویل، چې دی دې خوشې کړی شي. کله چې جې سنگهـ خوشې شو، نو د یو داسې موقع په لټه کې شو، چې د فرید خان نه د خپل سپکاوي بدل واخلي. زه یو ځلې د فرید مخې ته ولاړ وم، چې جې سنگهـ هم راښکاره شو. لومړی یې دوستانه خبرې کولې، بیا یې نابېره یو خنجر راوویستو او د فرید په سر یې گوزار



وکړو. ما د هغه لاس ونیولو، خنجر مې ترې واخیستو او دی مې دوزخ ته ور واستاوه. فرید زما مننه وکړه او ویې ویل زه تا خپل یو مخلص ملگری گڼم. زه د زړه او روح نه ستا نوکر او غلام یم.

کله چې دا بوړنونکی خبر د جې سنگهـ لور ته ورسېده، نو هغه ډېره خپه شوه. تر نهو ورځو او نهو شپو یې د خپل پلار د قتل په ماتم نه څه خوړل او نه یې خوب کاوه. د فرید غمژن حالت قلم نشي بیانولی. د محبوبې غم د هغه د زړه په پرهرونو مالگه دوړوله.

یوه ورځ دې پاک لمنې مېرمنې اور بل کړو او ځان یې د اور لمبو ته واچاوه او د ځان په سېځلو یې خپل ځان د گناه نه پاک کړو. د فرید د صبر کاسه ډکه شوه او غوښتل یې چې دی هم ځان ووژني. دا غم یې غلی له ځان سره پاللو. یوه ورځ یوې گوښې ځای ته ولاړو او غوښتل یې چې په زهرو لړلي خنجرځان مړ کړي. زه حسن چې د فرید نه د ببلېدو زغم مې نه لاره، زما صبر هم تمام شو او توان مې هم نه لاره. زه هغه گوښې ځای ته ولاړم او ورته مې وویل: ای زما باچا خپل لاس ونیسه او بیا د فاني نړۍ په اړه مې ورته یو شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویلو. فرید راته وویل دا دوهم ځل دی، چې ته ما له مرګه ژغورې. د فرید خان په زړه کې لا دا غم تازه و، چې ددې پېښې خبر د هغه پلار حسن خان ته ورسېدو اودی یې سمدلاسه د پوځي خدماتو نه لرې کړو."

د حسن علي خان دا کیسه د ډاکټر حسین خان دکتاب په **۵۵** او **۵۲** مخونولیکلې ده.

فرید خان چې د پلار له خوا د سهسرام نه وشړل شو، نو دی کان پور ته ولاړ. هلته د سورکورنۍ یو بل تن اعظم همایون سرواني زمکې لرلې او فرید له ده سره پوځي خدمات سر ته رسول. څه موده وروسته د ابراهیم خان سرواني په پوځ کې د هغه له حریف رانا سانګا سره وجنګېده او بیا په اګرې کې د دولت خان لواني په پوځ کې شامل شو، چې د ابراهیم لودي یو با قدرته سردار او ولس زره پوځ یې لاره. فرید خان د خپل ملازمت پر وخت دولت خان ته خواست وکړ، چې باچا ته دده سفارش وکړي چې خپلې پرګنې دې ورته بېرته ورکړی شي. دولت خان کله چې لودی باچا ته د فرید خبره وریاده کړه نو هغه وویل، هغه څوک چې د خپل پلار پر ضد درېږي، د باور وړ نه دی او نه ورته



په حکومت کې څه کار ورکولی شي. څو ورځې وروسته میا حسن په سهسرام کې د خپل اس نه راپرېوتو او مړ شو.

دده د دوهمې مېرمنې زامنو هلې ځلې پیل کړې، چې د پلار په ټول میراث خېټه واچوي. سلېمان د پلار پټکی پخپل سر کېښود، نو د فرید ورور نظام ورته یادونه وکړه، چې د حسن تر ټولو مشر زوی فرید خان دی. د قام نورو مشرانو په منځګړتوب د حسن میراث دده په زامنو ووېشل شو. د سهسرام او د ټانډه د دوو پرګنو لپاره دولت خان لواني د لودي باچا نه یو فرمان تر لاسه کړو، چې د هغې تر مخه فرید خان له پوځي خدمتونو سره سره ددې پرګنو نه به د کال مالیه حکومت ته ورکوي.

اوس فرید یو خپلواک زمکه وال و او چې بېرته سهسرام ته ورسېده، نو هلته یې د ختو یوه قلا جوړه کړه او ورونه یې راټول کړل، خو د سهسرام او د ټانډه پرګنې دده لپاره د ورونو له زړه حرص او کینه لرې نه کړل. سلیمان داسې ګڼله، چې له دوی سره زیاتې شوی و او هغه د ابراهیم لودهي یو امیر او د جون پور

(c) ketabton.com: The Digital Library



والي محمد خان سور داود شاه خېل ته د پلار د پرګنې نه د فرید د لرې کولو غږ وکړ او ددی لپاره یې څه پېسې هم ورته ومنلې.

د سکندر لودي په حکومت کې د بهار سویلي برخه له ډیلي سره یو ځای اداره کېده. هغه وخت دریا خان لوانی (نوحانی) په ډیلي کې د امیر الامرا (مشر وزیر) او په بهار کې د مسند عالي دنده په غاړه لرله او دی افغان واکمنو ته پت من و، خو د لودي حکومت په ډیوه کې اوس تېل په خلاصېدو وو.

د سکندر لودي د مړینې نه وروسته د هغه زوی، ابراهیم لودي خپل ټول مخالفین یا وژل او یا به یې زندان کې اچول او په هر چا به یې شک کاوه. د ابرهیم پر ضد تر ټولو لومړی افغان، چې د بغاوت نغاره یې وډنګوله هغه د بهار مسند عالي دریا خان لوانی و. دی او دده زوی بهار خان په جنوبي بهار کې پوځ لرلو او د لودي سلطنت تکړه منصبداران و. ورپسې د پنجاب والي او ځواکمن امیر دولت خان لودي د باچا نه د ځان خلاصولو لپاره له نورو افغان امیرانو سره مشورې پیل کړې. تر دې چې هغه په کابل کې مغل باچا بابر ته



په هند د حملې بلنه ورکړه

دولت خان د مغلو د حملې لپاره لاره هواره کړه او هیله یې دا وه، چې ابراهیم لودي په مغلو وټکوي، نو دوی به یو بل افغان واکمن کړي او د هند حکومت به له پښتنو سره پاته شي.

محمد خان سور د هغه وخت د سیاسي حالاتو نه خبر و او سلیمان ته یې ډاډ ورکړو، چې که سلطان ابراهیم لودي د مغلو نه میدان یوړو، نو سمدلاسه به د فرید خان نه دوه پرګنې واخیستل شي، خو که بابر میدان وګټلو، نو بیا به فرید خان د توري په زور په ګونډ وکړي. هغه د سلیمان د ډاډ لپاره فرید ته هم پیغام ورواستاوه، چې د مغلو پر ضد دې د ابراهیم متهې مضبوطې کړي او د پرګنو نه دې یو کلی خپل ورور سلیمان ته ورکړي.

فرید ورته ځواب ورکړ، چې زما په اختیار کې کلي د سلطان ابراهیم لودي له خوا راکړل شوي دي. د جون پور والي ددې اختیار نه لري، چې دا زما د لاس نه بل چا ته د ورکولو امر وکړي. پاته شوه د جنګ خبره، نو په دې کې خپلوي نه کېږي. هر څوک چې توره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، سیکه به هم د هغه په نوم وي.

په دې ځو اب محمد خان فرید ته د سزا ورکولو هوډ وکړو او نږدې وه، چې لښکر یې ورپسې لیږلی وای، چې په ۱۵۲۶ م کې د پاني پت په میدان کې د هند سلطنت د پښتنو نه د مغلو لاس ته ورغلو.

بابر په اګرې کې د خپلې باچاهۍ اعلان وکړو، نو د ابراهیم لودي پاته شونې پوځي سرداران او امیران چې د مغلو د واکمنۍ پر وخت د ډیلي او اګرې نه ووتل، زیاتره یې د ګجرات د واکمن سلطان بهادر شاه ته پناه یوړه. په دوی کې عیسا خان مسند عالي (کاکبر سرواني) هیبت خان سرواني، اعظم همایون سرواني، میا ببن شاهو خېل، قطب خان موجي خېل، میا معروف فرمولي او اعظم همایون شاهو خېل مهم کسان و. بلې خوا ته د مغل باچا سره هم مهم افغانان پاتې ول، چې د ابراهیم لودی پر ضد یې بابر هند ته رابللی و. په دوی کې د دولت خان زوی د لاور خان لودي (خان خانان)، میا اسمعیل جلواني، سید شمس ابادي او مبارک فرمولي نومونه د یادونې وړ دي.

دلاور خان لودي په بنګال کې د مغل پوځ جنرال و.



وروسته چې کله یې له شېر خان نه ماتې وخوړه او ونیول شو، نو دده په امر ووژل شو.

د ابراهیم لودهي د حکومت په وروستیو کلونو کې د هند ختیځې سیمې د مرکز نه د لرې والي له لامله خپلو والیانو له خوا اداره کیدې او ځینو لکه د وړو باچاهانو چلن کاوه. د جنوبي بهار والي بهار خان لواڼي هم د یو خپلواکه والي په توګه خپلې چارې یواځې سمبالولې. د فرید خان پرګنې په بهار پورې تړلې وې، نو هغه هم هلته پاته شو.

د لودهیانو په دور کې بهار مرکز پټنه د ګنګا په غاړه اباد و. ددې پخوانی نوم "پټالي پترا" و. فرید د سهسرام چارې په ښه توګه سمبالې کړې وې او بهار خان دده له چلن خوشحاله و. په ځینو تاریخونو کې لیکل شوي دي، چې د زمري په وژلو فرید ته د شېرخان لقب هم ده ورکړی و. فرید د ۱۵۲۲ م نه وروستو د شېر خان په نوم شهرت وموند او له دې وروسته د تاریخ د پاڼو نه د فرید د ورنوم ورک شو.

شېر خان اوس مغل باچا بابر ته خپل پوځي خدمات وړاندې کړل او د بهار په سیمه کې یې پښې دومره ټینګې کړې، چې ټوله سیمه دده په اختیار کې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بابر نامه کې یې لیکلي دي، چې د بهار ایالت پر ۱۵۲۹ کال شېر خان ته ورکړی شو. له مغل باچا بابر سره د شېر خان تعارف سلطان جنېد برلاس کړی و، چې د کړه مانک پور مغل والي و.

د تاریخ افغانیه لیکوال حسن علي خان چې په دې موقع موجود و، لیکي، "مونږ چې کله د جنت په شان پوځي مرکز ته ورسېدو، نو باچا ته مو خپل احترامات وړاندې کړل او د هغه په نوکرانو کې شامل کړی شو. بابر شېر خان ته ډېر درناوی وکړ او یو خلعت یې ورته ورکړو. سلطان جنېد برلاس د شېر خان په ستاینه لګیا شو او هغه ته یې وویل چې د باچا سلامت په خدمت کې واوسي، چې مرتبه یې لوړه شي. شېر خان د تېموري دربار له مراسمو سره سم له باچا سره د پتمن اوسېدو لوړه وکړه. بابر د خپلې مهربانۍ د څرګندولو لپاره یوه مېلمستیا جوړه کړه، چې شېر خان هم ورته دعوت شوی و. د شېر خان کره وړه داسې وو، چې بابر ورته د ستاینې نظر وکړو. کله چې ده ډوډۍ وخوړه او شرابو ورباندې اغېزه وکړه، نو د محفل تشریفات ترېنه هېر شول، ما ته یې زما نوم په اخیستو وویل، که خدای کول، زه به د تیمور خاندان



له هنده وباسم او په ښه مېړانه به یو ځلې بیا په کلکو بنیادونو د افغانانو حکومت جوړوم. ناصر قلي او د هغه ورور دا خبرې واورېدې او سمدلاسه یې د بابر غوږونو ته ورسولې. باچا په دې خبره سخت په قهر شو، ناصر قلي او مهربان قلي ته یې امر وکړ، چې په شېر خان دې نظر وساتي، بله ورځ دې هغه ګرفتار کړی شي او د جنېد برلاس په وړاندې دې ترې ددې خبرې سپیناوی وشي.

دا زمونږ نېکمرغي وه چې ددې کیسې نه خبر شو او شېر خان مو د خطر نه خبرکړو. هم په هغه شپه مونږ دوه تېز رفتاره اسونه تر لاسه کړل او کور ته مو پښې سپکې کړې."

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه


طبقات ناصري. منهاج سراج. ترتیب وتحشیه، عبدالحی حبیبي قندهاري. اردو ژباړه. غلام رسول مهر. بیا کتنه سید حسام الدین راشدي. اردو ساینس بورډ، دریم چاپ ۲۰۰۴ م. ۵۹۲ مخ.

۲. شېر شاهي تاریخ. د عباس سرواني لیکنه، د ډاکټر دولت محمد ژباړه، د افغانستان او هند د ښو اړیکو سیمینار په ویاړ د کابل پښتو ټولنې چاپ. ۱۳۵۴ ه.ش (۱۹۷۵). مهتمم عبد الريم وحيد. ۱۳، ۱۲، ۱۱ مخونه

۳. شېر شاه سوري او دده زمانه. چالکارنجن قانونگوه. لکهنو ۱۹۲۴ ژباړه ،محمد بابر جاوېد لاهور.مشتاق بک کارنر.

۴. تزک بابری. رشید اختر ندوی ژباړه. ۱۹۹۹ م. سنگ میل چاپ لاهور. ۲۷۲ مخ

۵. شېر شاه سوري. ۱۵۴۰.نه ۱۵۴۵ پوری. ډاکټر حسېن خان. فېروز سنز لاهور. ۱۹۸۷ م




# د شېر خان نه شېر شاه

د روپۍ توری په پښتو ژبه کې هره ورځ د کاروباریانو په خوله وي دا توری د شېر شاه له وخته د پېسو لپاره وکارول شو. د روپۍ په نوم لومړۍ سیکه د شېرشاه له نوم سره په بهار کې ضرب شوه، چې دی لا د هند پوره واک هم نه و ترلاسه کړی. تر هغې په هند کې د بهلولي په نوم سیکه رواج وه، چې د بهلول لودي پر وخت معرفي شوې وه او د بابر او همایون تر وخته دا سیکه په بازار کې چلېده.

مغل باچا بابر په ۱۵۴۰ م کې مړ شو، نو د هند په لر او بر کې پښتانه بیا فعاله شول. د سلطان سکندر زوی د بنګال په خاوره واکمن و. ده بهار ته پام نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او دومره توان یې نه لاره، چې هند یې له مغلو اخیستی وای، خو دده پلویانو لیدل، چې په سیمه کې د شېرخان اغېز مخ په زیاتېدو و. په دې وخت کې شېر خان دوه سیاسي ودونه وکړل. د بهار د والي سلطان محمد د کونډې دودو سره، چې د جلال خان لوانهي مور وه. شېر خان دجلال پوځي اتالیق و. بل واده یې د چونار د واکمن تاج خان سارنګ خاني له کونډې سره وکړ، چې لاډو نومېده او په دې واده د چونار کلا دده لاس ته ورغله.

په ۱۵۲۸ م کې د سلطان سکندر زوی محمود لودي په بهار حمله وکړه او د خپل نوم د سیکې په ضربولو یې دا هم پخپل قلمرو کې شامل کړه. دده د نوم سیکه هم دلته د انګرېزانو پر وخت موندل شوې وه. شېر خان هم مجبوره شو، چې لنډ وخت لپاره د هغه واک ومني، خو هغه په دې وخت کې د بابر زوی همایون ته لیک واستاوه، چې که سلطان محمود له مغلو سره جنګ وکړو، نو دی به د لودي لښکرو نه بېل شي. د شېر خان پوځي ځواک چې زیات شو. نو دی په بنګال کې له سلطان محمود سره وجنګېده او د



بنګال سیمه یې ترې واخیسته. د ګجرات او د مالوې افغانان لا پخوا د شېر خان پلویان ول. نو ده اوس د ډیلي ته سترګې سرې کړې، خو له همایون سره یې د سیاست نه کار واخیست. له هغه سره یې د سولې تړون وکړو او د تړون تر مخه شېر خان د مغلو له خوا د ټول بهار واکمن ومنل شو.

په دې وخت کې هغو افغانانو، چې شېر خان ته یې په ټیټه سترګه کتل، دده تر بېرغ لاندې راټول شول. ددې نه علاوه ده بې شمېره راجپوت (هندو)، مغل، ترک، ازبک او تاجک امیران د انتظامي کارونو لپاره وټاکل. په ۱۵۳۷ کې همایون دده پر ضد وخوځېد او د چنار او د روهتاس کلا ګانې یې ترې ونیولې. بیا همایون بنګال ته وړاندې شو او شپږ میاشتې هلته و، خو په واپسۍ کې د چوسه په مقام له شیر خان سره په جنګ کې له سختې ماتې سره مخ شو او د ډیلي پر تخت یو ځل بیا افغان باچا کښېناستو.

د مغلو د ماتې لامل دا و، چې همایون د بابر باچا مشر زوی او د سلطنت وارث یو نرم او درویش طبیعته کس و. مرزا کامران له ده شپږ کاله کشر او بابر پخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کې ورته د کابل او کندهار صوبې ورکړې وې، چې دی يې با اختياره باچا و، خو کله چې بابر مړ شو، نو مرزا کامران د ورور په ضد لښکر وکړو او په پنجاب يې حمله وکړه. ده لاهور او حصار فېروزه ونيول. همايون د ورور دا حق ومنلو او هغه ته يې د پنجاب پراخه زمکه پرېښووده. د بابر درېيم زوی مرزا هندال هم د همايون په مخالفت ډيلي ته ورغلو. هغه وخت همايون په چوسه کې له شېر شاه سره په جنګ اخته و. بيا مرزا کامران ډيلي ته ورغلو ، هندال يې لرې کړو او همايون ته يې وويل چې اوس به د شېر شاه پر ضد دده پلوي وکړي، خو هم په دې ورځو کې هغه ناروغه شو او شک يې پيدا کړو، چې ګوندې ده ته د همايون په وينا زهر ورکړی شوي دي. همايون ورته ډېر ډاډ ورکړ، خو هغه له وېرې بيا پنجاب ته وتښتېدو.

کامران د لاهور نه د خپل ورور له حريف شېر خان سره د روغې خبرې پېل کړې. هغه وخت همايون په قنوج کې د شېر خان نه ماته خوړلې وه او د ملتان پر لور روان و. شېر خان د کامران مقابلې لپاره لاهور ته



ولاړو او هغه يې کابل ته په تېښته مجبوره کړو. د بابر څلورم زوی مرزا عسکري نومېده، چې همايون ورته د سمبهل سيمه په واک کې ورکړې وه. ده چې ګجرات ونيولو، نو د ټول هند د باچا کېدو لپاره يې اګرې ته مخه کړه، خو په دې وخت کې ترې همايون وړاندې شو. عسکري د ورور نه بخښنه وغوښته او هغه يې وبخښلو.

په **۱۵۴۰** کې همايون په چوسه کې د شېر خان نه د جنګ په بايللو لومړی اګرې، بيا ډيلي او ورپسې د ملتان له لارې سندهـ ته ولاړو . دده د کورنۍ ښځې او ماشومان څه په اګره، نور ډيلي او يو څه په لاهور کې ول. د هغه مېرمنه بېګم باچا په چوسه کې د جنګ په مېدان کې يو خېمه کې پاتې شوه . شېرخان غوښتل چې دا د نور مغل کورنۍ سره کابل ته ورواستوي، چې مرزا کامران پکې واکمن و، خو ملکې شېر خان ته خواست وکړو، چې دا هم هلته (په هند کې) پاتې کېدل غواړي. هغه وېرېده چې کامران به ورسره ښه چلن نه کوي. شېر خان ورته وويل " په دې به زما نوم بد شي. ټوله دنيا خبره ده چې افغانان د عزت او احترام

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندان دي، که ته دلته پاتې شوې، نو دا عزت او احترام به خاورې شي. ښه به دا وي، چې ته کابل ته ولاړه شې" د بېګم پادشاه په غوښتنه شېر خان سور هغې ته يو ليکلی فرمان ورکړ، چې پکې ليکلي وو ، " د کابل سيمه ستا په اختيار کې درکوو. زما له خوا به هيڅوک هلته نه ورځي ( يعني په کابل به حمله نه کېږي) هغه وخت د کابل د سيمې سرحد د اباسين د لوېديځې غاړې نه پېل کېده.

شېر خان په **۱۵۴۰** م کال کې د شير شاه په نوم د هند واکمن شو، چې دی د **۲۴** يا **۲۵** کالو و. دده د حکومت موده پينځه کاله وه او په دې لنډ وخت کې ده په هند کې دومره پياوړی سيستم جوړ کړو، چې وروسته ترې مغلو هم کار اخيسته. دده په سلطنت کې د هند جنوبي برخې، لکه دکن او د پېښور نه وراخوا سيمې نه وې شاملې. همدغسې د کشمير او د هماليه غرني رياستونه هم دده له واکه وتلي ول، خو دده حکومت له اټک نه تر بنګاله غزېدلی و، چې په **۶۲** انتظامي برخو يې وېشلی و. هرې برخې ته به يې سرکار وايه. دا سرکارونه بيا په پرګنو وېشلي ول، د



هرې پرګنې سرکاري چارواکي ، امين ، شقدار ، خزانچي او محرر (ليکونکی) و. محرر به د دوو ژبو (فارسي او هندي) و. د بهار د واکمن په حېث به ده هر دوه کاله وروسته حکومتي چارواکي له يو ځای نه بل ته بدلول، چې د اداري فساد مخه ونيسي او له يوې بلې سيمې سره هم بلد شي.

په هند کې د انګرېزانو په وخت هم سرکاري ملازمان د دوو کالو لپاره په يو ځای ساتلی شول.

د شير شاه له خوا په لومړي ځل د هند زمکه کچ شوه او د ماليې اخيستل يې د کال د زمکې د حاصلاتو په سر وټاکلو. نتيجه يې دا وه که په يوه سيمه کې به ښه فصل نه و شوی، نو هغوی ته به يې ماليه معاف کړه. په تجارتي مال يې د ګمرک يا د محصول اخيستو کار پيل کړو، چې سرکاري خزانه پرې جوړه شوه..د ډاک ( پوستې ) سيستم پخوا هم و، خو اوس د سړک په سر ډاک خانې جوړې شوې. په دې توګه په هند کې دا لومړی حکومت و، چې د عامو خلکو دښېګړې او دوی ته د سروسونو ورکولو لپاره يې کار وکړو.

د شېر شاه تر ټولو مهم کار په ټول هند کې سړکونه جوړول و. ده غوښتل چې سهسرام له اګرې سره ونښلوي، نو د اګرې نه جودهپور او چتوړ ته، د اګرې نه برهان پور ګجرات او له ملتان نه یې تر لاهور پورې نوي سړکونه جوړ کړل. د سړکونو په دواړو غاړو یې د ونو د کرلو او د مسافرو لپاره سرایونه، چې د مسلمانانو او هندوانو لپاره بېل بېل ول، جوړ کړل. دده تر ټولو مهم سړک جرنېلي سړک دی، چې په انګرېزي کې ورته "ګرېنډ ټرنک روډ" یعنې جي ټي روډ وایي. دا د هند د لویې وچې تر ټولو لومړی غټ او پوخ سړک و، چې د بنګال د سنار ګاون (اوسني بنګله دېش په نراین ګنج کې) نه ترپېښوره غزېدلی و. وروسته بیا مغلو دا سړک له پېښور نه تر کابله وروغځاوه.

دوه زره پینځه سوه کلومیټر اوږد د شېر شاه جرنېلي سړک د هند دا مهم ښارونه پخپلو کې نښلول: کلکته، بنارس، اله اباد، کان پور، ډیلي، امرتسر. لاهور او پېښور. ددې لویې لارې بنسټ شېر شاه سوري په ۱۵۳۳ م کال په بنګال کې کېښود. د شېر



شاه نه وړاندې د هندو شاهي (وړو کوشانیانو) په دوره کې د پټالي پوترا (اوسني پټنه) او د ټېکسلا تر منځ لویه لاره وه. په دې سړک هره فاصله کې کاوس مینارونه (یو کاوس څلور میله وي) جوړ شوي ول، چې د پوسټ خانې کار یې هم ورکاوه او ځینې یې تر اوسه پاته دي.

د شېر شاه په بریالیتوب کې دده د پوځ د تکړه جنرالانو او امیرانو لاس و، چې پخپل استعداد به یې ورته کارونه سپارل. په دې توګه هغه د خپلوۍ او سفارش له لارې په منصبونو د نالایقو خلکو د ټاکلو مخه ونیوله، په تېره بیا په پوځ کې یې داسې کسان نه پرېښودل. ده خپلو پوځیانو ته د میاشتني معاش د ورکولو نظام هم معرفي کړو او جنرالانو ته به یې لوړه تنخا ورکوله. همدا وه، چې د پوځ افسران ورته په هر حال کې پتمن پاتې شول. دده تر ټولو بااعتباره امیر خواص خان د بنو د مروتو د قبیلې نه و، خپل نوم یې صاحب خان و او د خپل مشر ورور خواص خان نوم ورته ورکړی شوی و، چې په بنګال کې د یو جنګ پر وخت په اوبو کې د ډوبېدو له لامله مړ شوی و. دی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېر شاه تر ټولو مهم پوځي جنرال او صلاح کار و او دده د نايب په توګه يې کارکاوه. د جنګ په مېدان کې به ورته مخالفينو توره بلا ويله، چې ښايي يا خو دده رنګ تور و او يا به يې توري جامې اغوستلې. د شېر شاه کشر زوی جلال خان چې سخت قهر ژن و، هغه هم له ده وېرېده. دی ډېر ديندار او عبادت کوونکی کس و او د شېر شاه کورنۍ ته سخت پتمن و.

يو بل امير هېبت خان نيازي له مغلو سره په جنګ کې د شېر شاه صلاح کار و او د پنجاب والي يې ټاکلی و. جلال خان د پوځ يو کوماندان او د شېر شاه له زوی جلال خان سره يې د مغلو پرضدد چونار د کلا دفاع کوله. کله چې همايون په خوشاب کې د ايران په لوري په تېښته و، نو د جلال خان پوځ ورپسې و. قطب خان نايب د هغو جنرالانو نه و، چې له مغل باچا همايون سره يې د جنګ پر وخت د پوځ مشري په لاس کې وه. سېف خان ازاخېل سرواني له مغلو سره د جنګ پر وخت ټپي شوی او همايون ته ورل شوی و. هغه دده په مېړانه ورته بخښنه وکړه او خوشې يې کړو.

د شجاعت خان اصل نوم شيخ اسمعيل و او د سور



کورنۍ غړی و. د بنګال په جنګ کې په مېړانه ښودلو ورته شېر شاه د شجاعت خان خطاب ورکړی و. ده له اګرې سره نږدې د ګواليار کلا د مغلو نه نيولې وه. بر مزيد کور هم د سور کورنۍ غړی و. له مغلو سره د جنګ پر مهال دی له خواص خان سره د هغو ډلو مشر و، چې د همايون پسې و. سرمست خان سربنی د شېر شاه ديني ورور و او دده پلار د حسن خان په پوځ کې شامل و. د قنوج په جنګ کې دی د پوځ سپه سالار و. حاجي خان بټني د بنګال فاتح او د شېر شاه مهم جنرال و. حاجي خان ترين د پنجاب د واکمنو په ډله کې شامل و. جلال خان جالو (جلو) د قنوج د جنګ پوځي کوماندان و. ميا خواجه اسمعيل جلواني په غازي پور کې و او د شېر شاه له خوا ورته ليک استول شوی و، چې دی دې د بنګال نه پر مغلو حمله وکړي. هغه د بلې غاړې نه په مغلو بريد وکړ، خو دا ليک د مغلو قوماندان محمد زمان لاس ته ورغلو. هغه اسمعيل جلواني سمدلاسه وواژه. دده زوی راې حسين خان جلواني د قنوج په جنګ کې د چپ لاس د پوځي ډلو کوماندان او د پنجاب واکمن و. عيسی

خان نیازي د پنجاب یو سردار او د ناګور والي و. حمید خان کاکړ د چوسه په جنګ کې د پوځ سپه سالار او د ملوټ د سیمې والي و. سید شمس ابادي هغه افغان و، چې د قنوج په جنګ کې یې همایون ته د ماتې ورکولو او دده د تېښتې پر وخت د نورو افغانانو په مرسته د همایون ژوند ژغورلی و.

د پوځ په پرتله د ملکي انتظام لپاره شېر شاه د هرې سیمې ځایي خلکو ته کار سپارلو. دده د مالیې او د ګمرک زیاته برخه د هندوانو په لاس کې وه، چې د پېسو په حساب او د دوسیو په ساتنه کې تکړه ول. د خپل سلطنت د پوځي ځواک د ساتلو لپاره شېر شاه لویو کلا ګانو په اهمیت خبر و او په بهار کې د روهتاس، چونار او د شېر ګړه کلا ګانې دده لاس کې وې.

د هند د انتظام او د کلا ګانو له جوړولو سره سره به شېر شاه زیات وخت له هغو راجپوت ریاستونو سره جنګونه هم کول، چې یا خو یې ورته شر جوړولو او یا یې د مالیې په نه ورکولو دده نه سرغړونه کوله. په مرکزي هند کې داسې یوه سیمه چې راې سېن نومېږي



او اوس په مدهیه پردېس کې دي. د غونډۍ د پاڅه جوړه کلا د بهیا پورن مل په لاس کې وه او شېر شاه ته داسې خبر رارسېدلی و، چې هغه ځینې مسلمانې ښځې هلته بند ساتلې وې. شېر شاه دا کلا محاصره کړه او د خبرو له لارې یې پورن مل اړ کړ، چې بهر راوځي. پورن مل په دې اعتبار بهر راووتلو، چې پښتانه خپل لوز نه ماتوي خو د شېر شاه پوځ دی هم هلته ووژلو او ددې کلا نوم اسلام اباد شو، خو اوس د غونډۍ د پاڅه دا ځای د لویې لارې په سر تلونکیو ته یوه کندواله ښکاري او راې سېن د یو څو کلو پښتانه په تاریخ خبر هم نه دي.

د شېر شاه په تاریخ کې دا د هغه د بد نوم لپاره یوه بېلګه شوه.

د کالنجر کلا د هندوستان په مرکزي سیمې بندېل کهنډ کې د اله اباد نه سل میله لرې لوېدیځ کې د یوې غونډۍ د پاڅه په اوونیم کلومیټر اوږده ساحه کې جوړه ده. د اریایي عقایدو پر بنسټ د کالنجر کلا نیول د انسان له وسه بهر و. دا د زمکې نه ۱۲۰۰ فټه لوړه ده او دیوالونه یې ۸ میټره پلن دي. محمود غزنوي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۰۲۳ م کې ددې کلا د نیولو هڅه کړې وه، خو تر یوې لنډې محاصرې وروسته یې پرېښوده. هغه وخت ددې شاو خوا گڼ ځنگلونه ول، چې د پوځ لپاره د توپونو او نورو اکمالاتو وړل ډېر خطرناک و. د کالنجر راجه د شېر شاه تابع نه و او دهغه یو حریف بیر بهان ته یې هم پناه ورکړې وه، چې د بهاټیه راجه و.

کالنجر د بندیله خلکو ټاټوبی دی او دوی به خپله سیمه په ډېره میړانه ساتله. دوی د مغلو نه زیات د افغانانو نه کرکه کوله، ځکه یو خوسکندر لودهي ددوی ملک وران کړی و، دویمه دا چې شېرشاه د راې سېن له راجه پورن مل سره ډېره بده وضع کړې وه او د کالنجر راجه د پورن مل غوندې ځان شېر شاه ته نه سپارلو، چې پایله یې هسې هم دده مړینه و، نو ځکه هغه په جنگ کې خپل مرگ ته غاړه ایښې وه. درېیمه دا چې اوس راجپوت له بارودو سره بلد ول او هغه وېره یې ترې نه لرله، چې پخوا یې وه او تر ټولو لویه خبره دا چې د نورو سیمو راجپوت هم دلته را ټول ول او د بندیله عامو خلکو هم چریکي جنگ کاوه او افغان پوځ ته به یې په چالاکۍ زیان رسولو.



شېر شاه دا کلا اووه میاشتې محاصره کړې وه. د کلا دېوالونه لوړ ول او د دې لپاره چې د بارودو گولۍ دننه وغورځول شي، د لرگي ارابې جوړې کړې شوې، چې پوځیان به ورباندې ختل او بارودي گوله (بم) به یې دننه ورویشتو. دا بمونه د کلا له دیوال سره نږدې زېرمه شوي ول، د کلا دننه د فعالیت د لیدو لپاره شېر شاه پخپله په یوې لوړې ارابې ودرېدو، چې ددې بمونو د تاوان جاج واخلي. په دې وخت یوه گوله دننه په کلا کې د پریوتو پرځای له لوی دېوال سره وجنگېده اوبهر د بارودو په زېرمه راولوېده. شېر شاه د دې زېرمې سره نږدې و او دده ارابې هم اور واخیستواو د بارودو گولۍ هرې خوا ته والوتې. د شېرشاه وجود وسوځېده او دی سمدلاسه خپلې کېږدۍ ته یوړل شو. په دې وخت کې هغه خپل جنرال ته د جنگ د جاري ساتلو ویل او په پوځ کې ځوک د باچا د حال نه خبر نه شول. شاهي طبیب دده د علاج هڅې وکړې او درې ورځې وروسته د کالنجر کلا ونیول شوه، نو شیرشاه ته خبر ورکړی شو.

په **۱۵۴۵** م کې د مۍ په **۲۲** نېټه شېر شاه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالنجر کې په ټپي حالت کې خپلې خېمې کې پروت و. هم هغه وخت دده د پوځ افسرانو دده د دوو زامنو په اړه خبرې وکړې، چې کوم یو به د حکومت وړ وي؟. د باچا د مړینې خبر هم پټ وساتل شو. د شېرشاه سوري لس زامن ول، چې عادل خان، جلال خان او رشید خان د یوې مور نه ول او قطب خان، سلیم خان، کمال خان، رکن خان، نصرت خان، نور خان او قایم خان د نورو مېندو نه ول. د شېر شاه دا پلان و، چې تر خپلې مړینې وروسته خپل سلطنت په دووزامنو ووېشي. دوی دواړه په جنګ کې تکړه، خو د سیاست په میدان کې بې کاره ول.

عادل خان با اخلاقه خو سست او د فېصلې کولو توان یې نه لاره. جلال خان لکه د تونډې سیلۍ ښه پوځي، خودسر او کینه لرونکی و. مخالفت یا په اعتراض به سخت په قهر شو او خلک به ترې ویرېدل. د جنګي مهارت له کبله د پوځ په ځوانانو ګران و. د شېرشاه پخوانیو باتجربه امیرانو به وربانډې شک کاوه. د شېرشاه یوه کمزوري دا وه، چې نه یې څوک وزیران ول او نه یې د شورا مجلس، د پښتنو د جرګو



روایت یې له سره ختم کړی و. د هغه امیران یواځې جنګیالي سرداران ول، چې د هغوی کار جنګ کول او زمکې ساتل وو. هغه خپلو امیرانو ته لوړې تنخواه ګانې ورکولې، چې د خپل قام او ټبر مرستې ته اړین پاته نشي. په دې توګه شېر شاه لومړې باچا و، چې په هند کې یې د فساد او د ماما خېلۍ مخه ونیوله.

اخر په کالنجر کې په دې وړاندیز زیات امېران په یوه خوله شول، چې دواړو وروڼو ته دې د پلار د مړینې خبر واستول شي. هر څوک چې کالنجر ته اول راورسېده، هغه به باچا وي. مشر عادل خان هغه وخت په رنتهمبور په کلا کې و، چې دده ځای نه یو نیم سل میله لرې و. د ده زوی محمود خان د نیکه په کېمپ کې و، دی یې راوبللو، لیک یې ورته ورکړ، چې سمدلاسه پلار ته ورشي او هغه خبر کړي. دویم لیک یې جلال خان ته رېوا نومې پوځي چاونۍ ته ور ولېږلو، چې د کالنجر نه پنځوس میله نبغ په لاره پروت و.

جلال خان ته چې د پلار د مړینې خبر راورسېدو، نو دی د جنګ په مېدان کې و. ده خپل احساسات څرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړل او د یو منظم پوځي افسر په څېر یې د راجپوت ځواک پر وړاندې خپلې حملې جاري وساتلې. هغه ته دا کمزوري ښکاره شوه، چې د دښمن په مقابل کې دې جنګ بند کړي. هغه وخت ممکن د جنګ بندول ورته نور تاوان اړولی وای. څلور ورځې په جنګ اخته و، ترڅو چې مېدان یې وګټلو، نو بیا کالنجر ته روان شو.

عادل خان سره څلور ورځې وې، چې که غوښتلي یې وای نو کالنجر ته رسیدای شو. او که نه په اګرې کې، چې د رنتهمبور ته ډېر نږدې و، خپل حکومت اعلان کړی وای، خو دی هم هلته پاته شو. جلال خان چې په پینځمه ورځ راورسېدو، نو مشر وروریې نه و او دی په هاغه ورځ د شیر شاه د ځایناستي په توګه د هند باچا اعلان شو. بنایي د اور لمبو د شېرشاه سږو او زړه ته تاوان رسولی و او دی د خپلو ټپونو له لاسه په خپله خېمه کې د سوځېدو په درېمه یا څلورمه ورځ مړ شوی وي. دده مړی یې هم هلته د کالنجر کلا ته نږدې په خاورو کې امانت کړو او وروسته یې سهسرام ته یې یوړو او په هغه مقبره کې یې خښ کړ،



چې پخپل ژوند کې یې جوړه کړې وه.

په راتلونکو څو میاشتو کې عادل خان په مېوات کې د خپل حق لپاره د جنګ اعلان وکړو، خو جلال نه یې ماتې وخوړه او بهار ته ولاړو. ددې نه وروسته د تاریخ پاڼې سپینې دي، چې عادل څنګه او د چا له خوا ووژل شو او که نه پخپل مرګ مړ شو. د ده داولادونو او مېرمنو په اړه هم څرګنده نه ده چې څه شول. د سهسرام په هدیرو کې د دوی قبرونه تراوسه شناخت نه لري.

اسلام شاه د پلار په حکومتي او پوځي تګلاره روان و، خو په هر چا به یې شک کاوه او کله چې خواص خان په څېر دینداره او سوري کورنۍ ته پتمن جنرال یې ووژلو، نو د شیر شاه امیران ترې بېل شول. دی پخپله د عقیدې ټینګ مسلمان و، خو مذهب یې د سیاست نه بېل کړو. دده انصاف په دوو اصولو ولاړ و: یو دا چې هره فېصله دې په وخت او عدالت دې له ټولو سره یو شان وي. دی د خپل پلار په شان خواریکښ او د حکومت په معامله کې سخت ګیر و. دده په هر سرکار (ولسوالۍ) کې څلور زره سپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامو خلکو د ساتنې لپاره تيار ولاړ ول. د شېر شاه له خوا ملکي انتظام ده نور هم ښه کړو او له کومو خلکو سره چې مالي مرستې کېدې، هغه يې په ځای ساتلي وو.

خو د شير شاه د تکړه واليانو په لرې کولو ده اګره خپل زوی ابراهيم سور او لاهور خپل د خورمېړه احمد خان سورته ورکړل، چې نه په حکومت او نه په اداره پوهېدل. په دې وخت کې د شېر شاه يو وراره سکندر سور هم په اګرې کې د ابراهيم په مقابله کې راووتلو او پخپل نوم يې سيکه هم ضرب کړه. د بابر زوی همايون، چې د ايران له باچا سره يې پناه وړې وه، د هند د حالاتو نه خبر شو، نو د پلار د سلطنت د تر لاسه کولو لپاره بيا د کندهار د لارې هند ته روان شو. ده د جلال خان په ژوند کې د لوېديځ پنجاب سوري اميرانو ته د پېسو په ورکولو دوی له ځان سره يو کړي ول. اسلام شاه د يوه ناسور دلاسه په ۳۰ اکتوبر ۱۵۵۳ م کې د اته کاله حکومت نه وروسته مړ شو او په سهسرام کې خښ شو.

اسلام شاه د هند راجپوت او نور نامسلمه دومره



نازول، چې افغانان به ترې ګيله من ول. دده يو لوی جنګي مشاور د برېمې طبقې هندو هېم چندرا (هيمو) و. عادل شاه بيا تر دې حده هېم چندرا ته اختيارات ورکړل، چې دده لپاره مغلو سره جنګېده. مغلو به هيمو ته په سپکه کتل، چې افغانانو ته ډېر پتمن و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه

١. شېر شاهي تاريخ. د عباس سرواني ليکنه، د ډاکټر دولت محمد ژباړه، د افغانستان او هند د ښو اړيکو سيمينار په وياړ د کابل پښتو ټولنې چاپ. ١٣٥۴ هـ.ش (١٩٧٥). مهتمم عبد الرحيم وحيد. ١٢٢، ٢٥٧ مخونه

٢. د ډيلي د پښتنو باچاهانو تاريخي جدول. اېدورډ ټهامس ١٨٧١ م. د ٣٩٨ نه ۴١٠ مخونه.



# مقبرې او کلا گانې

په دې کې شک نشته، چې د شېر شاه ټاټوبى سهسرام و، ده د خپل ماشومتوب او د ځوانئ ښه وختونه دلته تېر کړي ول. دا ښاريه د پټنې نه نږدې دوه سوه کلوميټره لرې ده، خو د بهار په لر او بر کې د شېرشاه د نوم ځايونه ښيي، چې دا د هغه خپل وطن و. د پټنې د لوی پوليس سټېشن مشر ته مې چې کله د شېر شاه نوم واخيستو، نو راته يې وويل " شېر شاه د بهار سپوت و، هغه ددې ځای اوسيدونکی و او مونږ يې چرې پردی نه گڼو" د شاه آباد، شېر گهاټي، شېر پور او شېر گړهـ دا څو نومونه دي، چې اوس هم د هغه د دور انگازې لري. په دی کې مې ځينې ځايونه پخپلو سترگو وليدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیر شاه مقبره د اوبو په منځ کې ده ، دا په یو دُکانچه چې له زمکې څخه دېرش فټه لوړه ده او څلور گوټیز شکل لري، جوړه ده او چارچاپېره یې یو زر مربع فټ تالاب جوړ دی، چې ۳۸ فټه ژور دی. د اوبو د تالاب نه دا مقبره ۱۵۰ فټه لوړه ده. د مقبرې څلورو گوټونو ته گومبدې جوړې دي او د لويې دروازې لاندې ته خانه ده. دننه یو لوی هال دی، چې چارچاپېره یې محرابونه د اویوه برنډه تري تاوه ده. د هرې خوا نه چت په څلورو محرابونو ولاړ دی او د هر یو محراب په منځ کې د اوسپنو کړې دي، چې یو وخت به پکې څراغونه ځوړند ول . د قبلې خوا ته درې محرابونه دي او د دېوال په تېرو قرآني آیتونه لیکل شوي دي. دا هال هشت پهلو دی او شپاړس کړکۍ لري، چې په دې توگه یې دا هال په ۳۲ برخو وېشلی دی .

د شېرشاه د قبر د پاڅه لویه گومبده ۲۳ فټه لوړه ده، چې د اوسپني د لوی زنځیر برخه پکې پاتې ده. دده قبر فرش نه لږ لوړ جوړ دی او د پښو لوري ته یې اته نور قبرونه دي، خو په یو هم نوم نه دی لیکل



شوی. د مقبرې د دېوالونو تېږې بې ترتیبه ایښودل شوي دي او وروسته وربانډې په دېوالونو پلستر کې رنگ لگېدلی دی، چې لږ لږ اوس هم ښکاري.

دلته یو وخت نیلا او سپین کاشي خښتې هم کارول شوې وې، چې اوس یې هم یو نیم ژېړ بخنه ټوټه پاتې ده. د نقاشۍ خال خال نښې هم دي، چې نیلا رنگ پکې واضح دی. د بهر نه دا مقبره درې پوړیزه ښکاري، چې ځینې برخې یې نمایشي دي. په دویم او درېیم پوړ کې وړې چترۍ او گومبدې په تیږو جوړې دي. مقبرې ته د ورتلو لپاره ددې په شمال کې درې سوه فوټه اوږده یوه لاره جوړه ده.

د ۱۲۳۲ م کال په سپتمبر کې یو انگریز پیټر مندي ددې روضې یو انځور جوړ کړی و ، چې ددې د تالاب په غاړه ونې لگېدلې وې او ټول ځای پاک صفا ښکاریدو. ښایي د مغلو پر وخت هم دا سیمه په ښه حال کې وه. د نولسمې پېړۍ په سر کې چې انگرېزانو دا سیمه ونیوله، نو دلته یې د تاریخي ودانیو سروې وکړه او هر څه یې د کاغذ پر مخ ولیکل. د ۱۸۱۲ او ۱۸۱۳ په دوو کلونو کې انگریز سروې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي فرانسس بوکانن، چې د سهسرام کوم انځور راښيي، هغه ورباندې پخپله هم د شرم احساس ښکاره کوي. دی ليکي، " د مقبرې د تالاب د کنستلو نه وروسته ددې په خاوره شاوخوا يو کچه دېوال جوړ و، چې اوس وران دی. دلته ونې نه ليدل کيدې، د قبر ته ورتلونکې لاره په اوبو کې پټه او هغه ورړه کوټه، چې ددې په سر کې جوړه وه، ړنګه ده. د روضې شاوخوا هر ډول قبرونه او گومبدې ښکاري، ددی په لوېديځه غاړه عيدگاه جوړه وه. د مزار دروازه په يوې تېږې بنده کړی شوې ده، دې ته ورتلونکی پل مات شوی و اودا ښه خبره ده، چې څوک ورته نږدې نشو ورتلی، که نه له دې ځايه به دېر شيان ورړل شوي وای".

بوکانن په سهسرام کې يو فقير وليده، چې ځان يې د شېر شاه د کورنۍ غړی باله، خو هيچرې د هغه قبر ته نه و ورغلی. انگرېز افسر په يوې کشتۍ کې د تالاب نه د مقبرې ودانۍ ته ورغلو او ليکي: " په تالاب کې د انسان او د ځناورو فضله مواد ښکارېدل، ډېرو هندوانو دلته ځانونه مينځل او ان ددې اوبه يې څښلې. د اينځر د ونو جرړو د مقبرې دېوالونه او ددې



چا چاپېره ورو ودانيو ته ښه زيان رسولی دی، ددې يوه گومبده پريوتې ده. د شېرشاه ددې مقبرې د ساتنې لپاره د وقف زمکې وې."

ښايي د انگرېزانو پر وخت دا ځای پاک کړی شو اوکله چې نامتولرغون پوه جارج کننگهم څو کاله وروسته سهسرام ته ورغلو، نود شېرشاه د مقبرې په اړه ليکي: " په هند کې مې د تاج محل نه وروسته دومره ښکلې مقبره نه وه ليدلې"

د شېر شاه د مقبرې نه نيم ميل اخوا شمال کې دده د زوی اسلام شاه (جلال خان) مقبره ده، چې نيمگړې پاتې ده. دده د مقبرې گومبده لسو نه پينځلس فټه لوړه جوړه اونقشه يې هم هاغسې ده لکه چې د شېر شاه د مقبری وه. په دی گومبده کې له اسلام شاه سره دده اخښی عادل شاه سورهم خښ دی او د ماشومانو پينځه قبرونه هم دي. اسلام شاه په **١٥٥٣** کې په گواليار کې مړ شو، نو زوی فېروز خان ماشوم و. ده خپل اخښی (د ښځې ورور) مبارز خان د خپل زوی سرپرست جوړکړی و، خو د هغه په جنازه کې دده دواړه ماشومان ورک شول. مبارز خپل خوريونه ووژل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پخپله یې د سلطان عادل شاه په نوم په ګوالیار کې خپله باچاهي اعلان کړه. دا د مبارز خان لویه تېروتنه وه، ځکه که ده د شېر شاه سور د لمسي د سرپرست په توګه باچاهي کړې وای، نو ډېر پښتانه به د سورکورنۍ د نومونو په ویاړ ورسره یو شوي وای، خود حکومت حرص د عقل دښمن وي. ښایي دا ماشومان د وژنې نه وروسته د اسلام شاه وفادارو ملازمانو دلته خښ کړي وي.

د شېر شاه د مقبرې په جنوب کې دې مقبرې ته ورته یوه بله مقبره هم ده، خو دا هم نیمګړې پاتې ده او د قبر د پاخه څپر هم نشته. ځایي خلک وایي، چې دا د شېر شاه د پیر روضه ده، خو ثابته نه ده. د سهسرام د ښار په منځ کې د شېر شاه د پلار حسن خان سور مقبره هم ده، چې چار چاپېره تري لوی دېوال تاو دی. دا یو مستطیله ودانۍ ده، چې په ختیځ، شمال او جنوب لوري دروازې لري او هر یو ګوټ ته یې یو ه ګومبده وه. لوېدیځ لوري ته یې یو جومات دی، چېجوړښت کې د شېر شاه د مقبرې په شان دی، خو وړوکی او دوه دروازې لري.



د دې ودانۍ په کتلو انګرېز سروې کوونکي بوکانن ، ډېر د شرم او د کرکې احساس کوي. وایي: " تحصیلدار یا مالیه اخیستونکی، چې مسلمان دی له جومات سره جوخت خپل کور جوړ کړی دی او ښه پاک یې ساتلی، یو کس ورله هره ورځ صفاي کوي او دی ورله معاش هم ورکوي، خو مقبره او جومات یې بې غوره ساتلي دي، چې د اینځر د ونو په جرړو ورو ورو په ړنګېدو دي. کله چې انګرېزانو دا سیمه ونیوله، نو هغوی دلته یې خپل ګودام جوړ کړو او د مقبرې په کوټه کې یې خپله اسلحه وساتله. اوس دلته لوښي لرګي ایښي دي او دا ټول د کولیانو (بار وړونکیو) ، مزدورانو او د عامو خلکو د تګ راتګ ځای شو. یواځې د قبر دروازې یې په خاورو بندې کړې دي، نه د اینځر ونې وېستل شوي او نه د دې صفایي کېږي".

په نولسمې پېړۍ کې د سهسرام زیاتره کورونه د خښتو جوړ و اوکاشي خښتې به هم پکې کارېدلې، کوڅې یې تنګې او کږې وږې وې، خو بوکان ته د بهار په پرتله ښه حالت کې ښکاریده. هغه وخت دلته د هندوانو په پرتله مسلمانان په زیات شمېر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدل او د دوی هديرې پکې هر ځای ښکاريدې.

بوکانن د شېر شاه د کور يادونه کوي او وايي: " د شېر خان کور د ښار په شمال کې جوړ و، چې اوس پکې د خښتو ډېرې ښکاري. د دې يوې غاړې ته هندو مندر جوړ کړی شوی دی، خو ددې کنډوالو او د خښتو شمېره دومره کمه ده، چې گومان نه کېږي چې شېر خان به دلته اوسېده.

يو پير زاده چې شاه صاحب ( سجاده نشين) نومېږي، د خپل باغ دروازه راته پرانسته چې هر ډول مېوې او گلانو ونې او بوټي پکې ول. د سهسرام کلا اوس هم شته، چې ده ( شېر شاه ) به پکې ژوند کړی وي. د سهسرام نږدې غرونه ترې درې ميله لرې دي او يوه تنگه لاره پکې جوړه ده. څېرمه ورته د کدرا سيند بهېږي. د شاه صاحب د کورنۍ يو تن ( مشر) ددې سيند د پاڅه پل جوړ کړی و.

د سهسرام کلا د هگۍ په بڼه جوړه ده او دواړو غاړو ته يې لوی فصيل په سر گول برجونه دي. په دې کلا کې درې پوړيزه ماڼۍ رنگ محل نومېده، چې تشي کنډوالي يې پاتې دي او عام خلک ورته "قلعه"



وايي. د کلا زياته برخه اوس د پوليسو تاڼې او نورو ودانيو اخيستې ده. د ښار نه يو ميل لرې په جنوب کې د علاول خان مقبره ده، چې ددې ټولو مقبرو جوړونکی د شېر شاه مهندس و. دا مقبره ساده او ښکلې ده، خو ددې حالت هم ښه نه دی او يو وخت دې مقبرې ته نږدې يوه فاحشه خانه هم وه."

علاول خان سور د جون پور د يو سردار محمد خان سور زوی و. په هند کې د هغه د لاس جوړې شوې ځينې ودانۍ د شېرشاه او پخپله د علاول خان د لوړ فکر ښکارندوی دي. پخپله شېر شاه د هند د مهمو ودانيو مشاهده وکړه، چې د هندوانو معبدونه او د مسلمانو باچاهانو له خوا جوړ شوي جوماتونه او کلا گانې پکې وې. ده د لوديانو جوړښت هم وليدو او په سهسرام کې يې د خپلې مقبرې نقشه پخپله جوړه کړه، چې د هندوانو د معبد په څير د اوبو په منځ کې ده.

د سهسرام په ختيځ کې د غرونو د پاڅه د شېرگړه کلا ده. د کلا تېره هم سور بخنه ده. د سهسرام په لوېديځ کې کاو سيند بهېږي، چې په جنوب کې له يو بل وړوکی سيند کودرا سره يو ځای کېږي. د دې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړه شېر شاه يو مضبوط دېوال جوړ کړی و، چې د يو پله نه په غرونوکې شېر ګړه ته د ورتلو خفيه لاره وه. په برسات کې دا سيند ډېر سېلابي وي، خو په ژمي کې يې اوبه کمې وي. که څه هم په شير ګړهـ کې وړوکی بازار او کورونه ول، خو دا د شېر شاه مرکز نه و او ښايي د خپلې کورنۍ لپاره يې يو خوندي ځای ګڼلو، چې په بيړني حالت کې دده خزانه او نور اکمالات پکې ساتل کېده.

شېر ګړهـ د غرونو په ډډه کې پټ ځای دی او د لرې نه د غرونو يوه برخه ښکاري.

همايون چې د ډيلي پر تخت بيا کښېناستو، نو د اسلام شاه د اخښي عادل شاه سوري د کورنۍ د ټولو غړيو د ووژلو امر يې ورکړ. هغه وخت وېرېدلو ښځو په شېرګړهـ کې پناه واخيسته، خو اخره کې ورباندې ټول رسد بند کړی شو. کله چې دوی تسليم شول، نو ټول يې د قلا د فصيل نه لاندې وغورځول.

په بهار کې د روهتاس تاريخي کلا د شېرګړهـ نه ۷۰۰ فټه لوړه ده، چې د سون وادۍ ترې ښکاري. شېر شاه په ۱۵۳۷ م کې دا کلا د راجپوت نه ونيوله.



د روهتاس سيمه د لوړ غره د پاځه په ۲۸ مربع ميله زمکه کې خپره وه او د ډېرش کلي پکې اباد ول. کلا ته ورختونکې هره يوه پوړۍ ۱۲ نه تر اتلس انچه لوړه ده او اس ورباندې په ګرانه ختلی شو. دې کلا ته به تکړه ځوانان ختلی شول. ددې قلا ساتونکې د شروع نه د راجپوت قام خلک ولاو د چندرابن کورنۍ سره وه. دلته د اوبو درې تالابونه د دوی د راجه ګانو (بن راجه، ګور راجه او چندرابن وغېره) په نومونو دي.. شېر شاه دلته د پخوانۍ کلا په منځ کې نوې کلا جوړه کړه، چې د ختيځ نه لوېديځ ته ددې ساحه يو ميل او شمال نه جنوب ته نيم ميل وه.

په ۱۵۴۲ م کال د مې د مياشتې په پنځويشتمه نېټه شېر شاه د جهلم نه لس ميله سوېل لورې ته د روهتاس په نوم د يوې بلې کلا د بنسټ ډبره کېښوده.

د لويو کلا ګانو جوړونکي شېر شاه په ۱۵۴۱ م کې د ډيلي په جنوب کې د اندر پرستها تاريخي ځای د خپلې کلا لپاره غوره کړو، چې اوس د زاړه کلا (پرانا کلا) په نامه يادېږي. دلته يو جومات هم دی او پلان يې دا و، چې دا به ټول په سپينو مرمرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېږي، خو دا تېره خلاصه شوه نو بيا مهندس ډېر په مهارت د سرو تېږې په کارولو دا جومات پوره کړو.

دکلا په منځ کې يو ګول برج دی چې اوس ورته "شېر منډل" وايي. دا اته څنډې لري (هشت پهلو) او په بره پوړ کې يې هرې خوا ته محرابونه دي، دا هم د هندو جوړښت په شان دی. وروسته بيا شېر شاه دلته خپل کتابتون جوړ کړو او يو ماښام ددې له پوړو راپرېوتو او مړ شو.

په بهار کې د سهسرام نه ورووسته د سوري کورنۍ مېشت ځايونه د چېن پور په سيمه کې وو. دا په ځينو تاريخونو کې د چونډ په نوم او په پارسي متنونو کې کله "جېند" او کله "جوند" ليکل شوی دی. د چېن پور نه دوه ميله ختيځ کې يو تاريخي مزار د مولي خان نومې ديني ثټهې په قبر جوړه ده. دده خپل نوم بل څه و، خو زيارت يې نږدې د ماهوله نومي کلي په نوم يادېږي. دا مقبره د تېږې نه جوړه او ګومبده لري او د خاورونور قبرونه هم ورسر جوړ دي.

د چېن پور په لوېديځ کې د بختيار خان مقبره ده، چې د ده مشر زوی فتح خان د شېر شاه زوم و. دده



مقبره د حسن خان د مقبرې په شان جوړښت لري، خو په ښه حالت کې ده. ددې چار چاپېره د تيږو دېوال دی او شاو خوا ترې ونې کرل شوي دي، خو ددې زړو ونو جرړې اوس د مقبرې يو دېوال ړنګ کړی دی. د مقبرې او د غونډېو تر منځ يو وړوکی سيند دی. په دې ګومبده کې پينځويشت قبرونه ول، چې ځينې پکې د چت نه راڅڅېدلو اوبو خراب کړي دي. مرکزي قبر اوس هم پر ځای دی او دولس ديارلس لوی او واړه قبرونه هم ورسره دي، چې ټول د يوې کورنۍ معلومېږي. دا څرګنده نه ده چې فتح خان کوم ځای خښ دی، خو دا سې ښکاري چې دی به له خپلو ښځو او ماشومانو سره يو ځای وژل شوی وي.

د فتح خان يو کشر ورور داود خان د مغلو د برلاسۍ پر وخت دا هديره جوړه کړې وه. دده قبر د پلار د قبر نه لږ لرې، خو وړوکی دي او ګومبده ورباندې نشته.

د بختيار خان د مقبرې په جنوب ختيځ لوري د اوبو يو لوې تالاب دی. ددې مقبرې مجاور اتيا (جريبه) ښيرازه زمکه لري او د انګرېزانو په حکومت کې يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مقبرې د ساتنې لپاره د مياشتې لس دولس روپۍ اخيستې، خو د انګرېزانو په رپورټ کې ليکلي دي، چې دی د مقبرې خيال نه ساتي او دلته يو پير درګاه ته زيات عقيدت لري، چې عثمان شاه نومېده او د شېرشاه نه وړاندې هلته موجود واو وايي چې دا هر څه د پير په برکت کېږي.

عثمان شاه د سيمې د بريخ پښتنو لپاره يوه سپېڅلې څېره ده. د پير عثمان قبر د سيند په لوېديځه غاړه پر يوه لوړ ځای جوړ دی او د پاڅه پرې ګومبده نشته. ددې چاپېره يو دېوال دی، ددې په شمال لوېديځ کې د بختيارخان خوريی حسين خان ښخ دی، چې د پير عثمان د قبر دېوال يې پوخ کړی و. دده ښځې ماشومان او نور خپلوان هم په دې هديره کې ښخ دي ، چې په ځينو باندې ګومبدې ولاړې دي. دلته يو وړوکی جومات هم جوړ دی.

داود خان د پير عثمان زيارت ته نږدې په غونډۍ يوه باره دري جوړول پيل کړيې وه، چې نيمګړې دېوالونه يې پاتې دي.

په نولسمي پېړۍ کې د چېن پور زمېن دار يو



پښتون و. هغه خپل زوی د انګرېزانو ديوان (منشي) ته ولېږه او ورته ويې ويل، چې دلته ټول دوه نيم سوه کورنۍ دي او په دې کې پنځوس کورونه د پښتنو ول، خو اوس پکې يوولس کورنۍ پاتې دي، خو د ګاونډې سيمې زمين دار انګرېز ته وويل، چې دلته د پښتنو سل کورونه پاتې دي.

د بهار د نورو سيمو په پرتله په چېن پور کې د پښتنو کورونه ښه جوړ شوي دي. د هر کور سره د خټو يوه کلا هم شته، چې ښه ساتنه يې کېده. د سيمې راجپوت دلته له پخوا راهيسې مېشت ول. دلته د دوی زړه کلا اوس هم شته، چې چارچاپېره ورته د اوبو خندق جوړ و او د دفاع لپاره يې کاراوه. ددې د پاڅه د شېرشاه يا د مغلو پر وخت يوه نوې کلا جوړه شوې وه، چې په کنډوالو کې يې خلکو د اوسېدو نوې کورونه جوړ کړي او يو مسلمان پير هم دلته ښخ دی.

د مغل باچا شاه جهان پر وخت د روهتاس ګړهـ د کلا کوماندان اخلاص خان نومېده او د چېن پور سيمه هغه ته د جاګير په توګه ورکړې شوې وه. ده د کلکتې په سړک د اخلاص پور په نوم يوه ښاريه اباده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نولسمې پېړۍ کې د چېن پور هندوانو دعوه وکړه چې د سیمې پښتانه پخوا راجپوت ول او وروسته مسلمانان شوي ول او ځان له دوی بېل ګڼي.

د مغلو پر وخت دې راجپوت هندوانو په نورو ځايونو کې ځان له کورونه جوړول او دوی سره به يوځای نه اوسېدل، خو د انګرېزانو په حکومت کې ورته هغوی د ژوندضمانت ورکړ، نو ورو ورو يې بېرته د دوی په منځ کې ژوند پيل کړ.

د هند د اريايي عقيدې پر اساس د ټولنې خلک په ثلورو طبقو يا برخو وېشلي دي. برهمن تر ټولو لوړ او د معبدونو ساتونکي، ورپسې کهشتري يا جنګيالي چې ټول راجپوت پکې شامل دي، درېيم وېش يعنې کروند ګر او تجاران او ټيټه طبقه يا شودر، چې د ټولو خدمت کوي. کله چې راجپوت هندوان په بهار کې مسلمانان شول، نو دوی ځانونه د پښتنو اندېول ګڼل . د اسلام نوم د دوی لپاره بس نه و، همدا وه چې دوی ځانونه د پښتنو په توګه ورپېژندل او هماغسې، چې د پښتنو قامونه ول، دوی هم ځانته د يو قام نوم غوره کړ.



په پټنه کې يو استاد راته داسې پښتون راوپېژندلو. شپېته کلن محمد اظهار خان وايي، چې دوی يوسفزي پښتانه دي. دی سرکاري ملازم و او اوس اووه زامن لري. ده راته وويل، چې دوه سوه کاله پخوا به يوسفزي پښتانه د بمبۍ نه بهار ته راتلل، چې زياتره به يې د آسونو تجارت کاوه. وروسته دوی له ځايي ښځو سره ودونه وکړل او تش د قام نوم ورسره پاتې شو.

اظهار وايي: دی د هغو پښتنو نه دی، دی پټنې ته نږدې د دهمار په کلي کې ژوند کوي. دلته ټول ثلور سوه کورونه دي، شل ، پينځويشت پکې د مسلمانانو او هغې کې هم يو کور دده دی. دده په وينا ، د راجپوت له کليو سره څنګ په څنګ د پښتنو دولس کلي اباد دي، چې د يو څو نومونه داسې دي: پيرو ، ابراهيم پور، ملکي، داون او داسې نور... اظهار دعوه کوي، چې ډېر خلک ځان ته پښتانه وايي او له خپل نوم سره د "خان" توری ليکي، خو دوی د پښتنو ځانګړتيا نه لري.

ما ترې پوښتنه وکړه، چې د پښتون ځانګړتيا څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي؟ نو راته یې په ګوتو وشمېرل.

لومړی: د نورو خلکو لپاره به د لاس روغبړ مهم نه وي، خو پښتون به تل درته لاس راوړاندی کوي او تا سره به تود روغبړ کوي.

دویم: کله چې پښتون درسره لوز وکړي، نو هغه به ارو مرو پوره کوي، دوی وعده خلافي نه کوي.

درېیم: پښتانه په نورو مسلمان قامونو کې واده نه کوي، که څه هم دا دود اوس په بدلیدو دی..

څلورم: د واده پر وخت به پښتنه ناوې چرې هم د مېلمنو په وړاندې نه راښکاره کېږي او کله چې یې د پلار له کوره وباسي، نو څادر یې پرې غوړولی وي.

پینځم: د پښتنو ښځې د پردیو سړو مخې ته نه راښکاره کېږي.

شپږم: که تاسو د پښتنو کورونو ته ورشئ، نو سړي له سړو سره کښیني او ښځې به په کور کې دننه له ښځو سره کښیني. که یو څوک په چا ظلم کوي او یو پښتون نږدې وي، نو دی به د مظلوم مرستې ته ضرور راوړاندې کېږي.

اظهار د خپلو خبرو په پای کې وویل، مونږ په



پښتنو ډېر ویاړو، ځکه دوی په افغانستان کې تل له لوی قدرت سره جنګېدلي دي.

د اظهار له خبرو مې دا نتیجه واخیسته، چې په بهار کې د پښتنو له نوم سره یو افسانوي تړاو پاتې دی. د ټولنې بې وزلي، له عامو خلکو سره سپک سلوک، چې ځینو ځایونو کې مې پخپلو سترګو ولیدل او د زړو روایاتو ختمېدل یوه نارامي رامنځ ته کړې ده. په دې حالاتو کې ممکن پښتنو پکې څه نا څه مثبت کارونه کړي وي، چې اوس د بهار هر مسلمان له خپل نوم سره "خان" لیکل غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذ

۱. د فرانسس بوکانن رساله. د ۱۸۱۲ او ۱۸۱۳ م تر منځ د شاه اباد ضلع د سروې پر وخت ليکل شوې وه. ۱۹۲۲ م کې د بهار د پټنې حکومت چاپ کړه. ۱۳۴ مخ



# پټنه د تصوف ښار

په ۲۰۰۰ ميلادي کال د پنجاب د چندريګړ په يو نړيوال کانفرنس کې د افغانستان استازي استاد عبدالخالق رشيد د پټنې د اره پوهنتون د اردو ژبې يو استاد شاه حسين احمد سره وليدل، چې ځان يې ورته د شاه ارزاني د سجاده نشين په توګه هم وروپېژندلو. د نورو پوښتنو او ځوابونو نه ځرګنده شوه، چې ده هم هغه ارزاني يادا وه، چې د پير روښان د غورځنګ يو غړی، دده مريد او خليفه و او د پښتو تصوف او د ادب نه ځو سوه کاله ورک و.

په بل کال چې استاد رشيد د يوې بلې غونډې لپاره پټنې ته لاړ، نو د ارزاني مزار يې وليدو او ددې خبرې پخلی يې وکړ، چې آيا دا هماغه ملا ارزاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



خښکي (خوښګي) دی، چې د شپاړسمې میلادي پېړۍ په وروستیو کې د تصوف د لارې د اسلام د دین د خپراوي لپاره روان شوی و؟.

د پټنې ښار په لومړي ځل د شېر شاه له خوا د بهار پایتخت کړی شو. له دې وړاندې بهار، چې اوس ورته بهار شریف وایي، چې د ګیا په ختیځ کې په ۴۲ کلومیټرۍ کې ددې سیمې مرکز و. دا اوس د یو صوفي شاه شرف الدین د زیارت لپاره نوم لري او یو وخت د پوهې او علم مرکز و.

د بهار شریف د شاوخوا سیمو په کلو باندو کې د پښتنو بېلا بېل قامونه ژوند کوي، خو د دوی شمېره دومره لږه ده، چې یوازې د تاریخ استادانو ته معلومېږي.

هسې خو د بهار په هره دوه کیلومیټرۍ کې د یو صوفي زیارت جوړ دی، خو د پټنې نه سهسرام ته په لاره ما دا زیارتونه ولیدل. په ۲۰ کیلومیټرۍ کې د شیخ کمال الدین یحي زیارت دی، چې د سهر وردیه طریقې پیر و، دده مزار ډېر په شین ځای کې و.

د شېر شاه د پیر مانېري شریف زیارت د پټنې نه



دېرش کلومیټر سویل ته جوړ دی، چې ابراهیم کاکړ نومي ارکیټکټ جوړ کړی و. د پټنې پوهنتون د فارسي ژبې استاد طلحه برق معلومات راکړل.دا ودانۍ ما پر لاره ولیده، د اوبو پر غاړه په یوې اوچتې غونډۍ له تېرو جوړ مزار په یو خاموشه ځای کې جوړ دی، چې سړک ترې ډېر لرې دی.

د پټنې پوهنتون د تاریخ یو استاد پروفېسر انوار عالم راته وویل، چې ابراهیم کاکړ د شېر شاه یو صوبه دار او مهندس هم و، غوښتل یې چې په بهار کې د مخدوم یحیی مانیري په قبر مزار جوړ کړي، خو بیا ورته بشارت وشو چې د هغه قبر دې همدغسې پرېښودل شي، نو بیا هغه د دولت مانیري په قبر، چې د شېر شاه پیر و دا شانداره مقبره جوړه کړه. دې ته بړي درګاه (لوې درګاه) وایي. په دې ښکلي زیارت کې سره ډېره کارول شوې ده او له ۱۰۱۷ نه تر ۱۰۲۷ هـ. ق کلونو کې جوړه وه، چې شاوخوا ښکلی باغ او یو تالاب هم لري، خودې ته نږدې اوس یو مېلمستون جوړېده، چې خلک ورته سېل له راځي، ددې زیارت سکوت مات کړی دی. دلته د وړاندې نه د بالي ووډ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلمونو لپاره ډلې راروانې وي او ښايي چې څو کالو کې به دلته دا خاموشي نه وي.

له **۱۵۵۷** نه تر **۱۵۷۲** م **مغل** باچا اکبر بهار د بنګال سره يو ځای اداره کاوه، خو د مغلو د دورې نه وروسته بنګال د مسلمانو نوابانو ولقې ته ولاړو او د بهار سيمه د يو بېل ولايت په توګه اداره کېده.

اکبرباچا پخپله نالوستی و، خو د هر دين له عالمانو سره به يې خبرې کولې او ځان به يې پوهاوه. ده ته په هر يو مذهب کې ښه والی ښکارېده او د هند په لويه وچه کې يې د خپل کاميابه حکومت او د خلکو د خوښۍ د ترلاسه کولو لپاره يو نوی دين رواج کړ، چې دين الهي نومېده. ددې کړنلاره د اسلام، برهمني او مسيحيت يوه ګډوله وه، چې ځينو درباري عالمانو يې سرپرستي وکړه، خو نورودا کفر او الحاد وګڼلو.

په دې کې د وزيرستان د کاني ګرم د سيمې بايزيد انصاري( روښان ) هم و. دده روښاني پاڅون په جهاد بدل شو او مغل واکمن ورپسې لښکر ورواستاوه. بايزيد ننګرهار ته نږدې په ۱۵۸۰ م کې جنګ کې ټپي



او څو ورځې وروسته د پېښور په کلپانۍ کې مړ شو.

خو د روښان زامنو او لمسو خپل جنګ جاري وساتلو، ترڅو د اکبر د زوی جهانګير پر وخت دده لمسو ته په هند کې منصبونه او جاګيرونه ورکړی شول. د روښان د تصوف پېغام دده شاګردانو د هند نورو سيمو ته يوړو، خو نوم يې ورک شو. د پير روښان د مريدانو په حلقه کې ملا ارزاني خوېشکي (خېشکي) هم شامل و او په کتابونو کې دومره ليکلي ول، چې دی د پنجاب د کسور نه ورغلې و او د پير روښان نه د زده کړې وروسته بېرته کسور ته ولاړو او هم هلته خښ دی.

نور بيا ليکي، چې پير روښان له خپل ليک سره دی د هند پر لور واستاوه او بيا يې درک ونه لګېده. دده شعرونه او څو ليکنې په پښتو ادب کې پاتې شول.

په **۲۰۰۳** م کال چې زه کله د بهار د پښتنو په اړه د څېړنو لپاره له استاد رشيد سره پټنې ته ورغلم، نو حسين احمد د ارزاني د مزار په خانقاه کې يوه غونډه جوړه کړه. هلته راته ده او نورو استادانو معلومات راکړل. حسين احمد د شاه حسين په نوم د ارزاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديارلسم څايناستى دى او د روښانى تصوف ډيوه يې بله ساتلې ده. ده ووېل: " شاه ارزاني د خپل پير (روښان) په څير د وحدت الوجود لاروى او مبلغ و. دى د اسلام د پېغمبر صلى الله عليه وسلم په بشارت هند ته ورغلى و.

مغل باچا اکبر، چې په هند کې ي يو نوى مذهب د "دين الاهي" په نامه معرفي کړو، نو ددې د اغېزو د لرې کولو لپاره دى هندوستان ته لېږل شوى و. ځينې خلک دې ته ګوته نيسي، چې د اکبر په مخالفت کې حضرت شاه مجدد الف ثاني راپورته شوى و، نو شاه ارزاني دا کار څنګه وکړو. په دې اړه په تذکرو او کتابونو کې ليکل شوي دي، چې د مجدد الف ثاني د مناظرې او د بحث انداز خپل کړى و، چې يو ډول شخړه يې جوړوله، خو شاه ارزاني په ډېره مينه، محبت او د يو مهربانه مشر په ډول د رېښتيني اسلام دين خپراوه. دده لاره د امن لاره وه او هغه وخت خلک په لوى شمېر د دوى شاوخوا راټول شول. ښايي پټنې ته د ورتللو وړاندې ارزاني د کسور نه اجمېر، ډيلي، بنارس او عظيم اباد کې ايسار شو او په



سلگونو شاگردان يې وروزل.

شاه ارزاني په بهار کې د اسلام له تبليغ سره سره د دين علم هم ضروري وګڼلو او د "مدرسة الاسلام" په نامه يې يوه مدرسه جوړه کړه، چې د قران تفسير، فقه او د حديث تعليم پکې ورکول کيده. دده تعليم نه يوائې بهار، بلکه د شاو خوا نورو سيمو ته هم خپور شو.

د پارس (ايران) د کرمان نه د ديني زده کړو لپاره يو کس شاه عبد الله کرماني بهار کې د شاه ارزاني شهرت په اورېدو دلته راغى. دلته يې د ارزاني نه د دين د خپراوي اجازه واخيسته او هغه بنګال ته ولېږه. ښايي دده د شهرت له کبله په سيمه کې د مغلو لپاره هم يوه درنه څېره شوه. ده راته ووېل، چې مغل شهزاده شاه جهان د باچا جوړېدو نه وړاندې دده په خدمت کې حاضر شوى و او ده ورته بشارت ورکړى و، چې ته به باچا کېږې.

همدغه لامل و، چې کله شاه جهان باچا شو نودده مزارد جوړولو امر يې ورکړ او زمکې يې ورته وقف کړې، چې د مدرسې او د مزار ساتنه پرې وشي. دده د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـزار شـاوخوا بـې شـمېره نـور قبرونـه هـم دي، چـې دده مریـدان پکـې ښـخ دي . د جومـات او د خانقـاه نـه عـلاوه، ښـایي پخـوا بـه تـرې چـار چـاپېره زمکـه شـنه او ونـې لرونکـې وه، خـو اوس پکـې خلکـو کورونـه جـوړ کـړي دي. د نولـسمې پېـړۍ د یـو انګرېـز د لاس جـوړ کـړی انځـور ددې ښـکارندوی دی، چـې د ارزانـي د مقبـرې شاو خوا ونې وې.

پـه نولـسمې مـیلادي پېړۍ کې دلتـه یـوه عیـد ګـاه هـم جـوړه شـوه او د اختـر پـه ورځـو کـې پـه زرګونـو کـسان دلتـه د لمانځـه لپـاره ورځـي. شـاه ارزانـي واده نـه وکـړی او کلـه چـې دی پـه ۱۰۲۸ هجـري (۱۶۴۹ م) کـې وفـات شـو، .نـو دده مریـدانو پرېکـړه وکـړه، چـې دده د تعلیمـاتو د جـاري سـاتلو لپـاره بـه یـو کـس دده پـر ګـدۍ کېنـي او د خانقـاه مجلـسونه او مدرسـه بـه اداره کـوي. دا کـس بـه ټاکـل کیـږي اوکلـه چـې د خپـل مقـام نـه تقاعـد کېـږي، نـو د بـل کـس نـوم بـه ورتـه ټاکـي او کـه پـه دې کـې اختلاف وي، نو رایه به اخستل کېږي.

اوس هـم دده د خانقـاه د متـولي ( سـجاده نـشین ) انتخـاب کېـږي او زیـاتره د پټنـې پوهنتـون یـو اسـتاد



وي. پـه ټول هنـد کـې دا یـوائینی مـزار دی، چـې سـجاده نـشین یـې مـوروثي نـه وي. شـاه حـسین احمـد راتـه وویـل: " د هنـد د وېـش نـه وروسـته دا مدرسـه وتـړل شـوه. خـو د تېـرو څـو کـالو راهیـسې پکـې د درسـونو لـړۍ بیـا پیـل شـوې ده. اوسنۍ مدرسـه مـا لـه شـلو شـاګردانو سـره پیـل کـړې وه، نـیم شـاګردان لـه خانقـاه سـره نـږدې پـه یـوه کـور کـې مېـشت دي، چـې ډوډۍ او جامـه ورتـه ورکـول کېـږي او د ډوډۍ پخـول، صـفایي او د جـامو د مینځلـو کـار پخپلـه هلکـان کـوي. د لـسو کـالو هلکـان هـره ورځ مـور پـلار مدرسـې تـه راولـي. پـه مدرسـه کـې اوس درې اسـتادان دي او د قـران د زده کـړې او د حفـظ لپـاره مـو درې کاله موده ټاکلې ده.

کـه یـو شـاګرد دا نـشي کـولی، نـو بیـا هغـه تـه نـورې ژبـې (هنـدي، اردو او انګرېـزي) زده کـوي او عـام ښـوونځي تـه یـې اسـتوو. هغـه چـې کـورس پـوره کـړي، پـه نـورو ځـایونو کـې درس ورکـوي او د مدرسـې لـه خـوا تعقیـب کېـږي. د کورسـونو او د نـور خـرڅ لپـاره چنـده راټـولېږي، هـر کـال د شـاه ارزانـي د عـرس لپـاره درې ورځـې ټاکـل شـوي دي، چـې یـوه ورځ یـې د ښـځو لپـاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. دلته د هر مذهب خلک ورځي او د خپل زړه مراد غواړي. د عرس په موقع د ځلويښتو زرو نه زيات خلک راټوليږي او ډېرې پيسې ورکوي.

د ودونو په موقع ښځې دلته ناوې راولي او د هغې د ښه ژوند لپاره دعا کوي. همدا شان مې يوه ډله ښځې له ناوې سره د ارزاني د زيارت نه بهر وليدې، دوی په لاسونوکې ډېوې نيولې وې او د سندرو په ويلو دننه ورغلې. يوې ښځې راته وويل: واده سبا ته دی، خو زموږ رواج دی، چې ناوې د نکريزو په شپه د شاه ارزاني زيارت ته ارومرو راولو، چې په راتلونکي ژوند کې خوش بخته وي.

د هندوستان په پښتو شاعرۍ کې قصيده د يو شعري ژانر په توګه لومړي ځل د ارزاني په شاعرۍ کې ښکاره شوه او تراوسه چې په هند کې کوم اسناد څېړل شوي دي، ښيي چې ارزاني لومړنی شاعر دی چې په پښتو کې يې الفنامې ليکلي دي.

يو الف دی دې کليات کې      محيط شوې لور په لور دی
کل زرې الف پيدا کړې      دی په کل زرې کې نور

د ارزاني د نورو لادرکه کتابي اثارو په اړه مې د شاه حسين نه وپوښتل، نو هغه راته وويل: " د ارزاني



پښتو ديوان د پټنې پوهنتون يو پروفېسر څه موده وړاندې له ځانه سره کور ته يوړو .دی په پښتو نه پوهېده، نو يو تن افغان يې راوبللو چې ددې په ليکنه ځان پوه کړي. اوس هغه پروفېسر مړ دی، کور واله يې خبر نه دي چې کتاب څه شو او د افغان نوم هم چا ته نه دی معلوم".. ښايي په لاس ليکل شوی دا ديوان يا خو د چا په کور کې له زړو شيانو سره ورستېږي او يا پرې چا پيسې ګټلي دي.

شاه حسين وايي، چې مونږ ته چې څومره شيان رارسيدلي دي، په هغې کې د پښتو ديوان نه پرته يوه سفرنامه وه، يو د مراته المحققين رساله وه چې ډېرې نسخې يې شته دی،خو د هندوستان څېړونکيو په دې د نورو نومونه وليکل او خپور يې کړ. يو کتاب د بسم الله تفسير و. چې زما لاس ته نه دی راغلی، خو ځينې برخې يې چاپ شوي دي. دده جامې ، دستار ، کلاه، پڼې ، تسبيح، کشکول او مسند شته او د عرس په موقع يې راوباسو.

شاه حسين وايي: د ارزاني د عرس په موقع د شاوخوا سيمو نه چې کوم خلک راځي، هغوی زياتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني لباس اغوندي.

په پټنه کې د خدا بخش کتابتون د یادونې وړ دی.

مولوی خدا بخش خان پر ۱۸۴۲ م کال کې زیږېدلی واو د پټنې له مخورو قانون پوهانو څخه و او له کتابونو سره یې بې کچه مینه لرله. ده به هر ځای د لوستلو لپاره کتابونه اخیستل او کله چې په دکن کې د ستري محکمې قاضي و، نو هلته یې قلمي نسخې راټولې کړې. د ۱۸۹۱ م نه دده د کتابونو لویه زېرمه دده په کور کې وه او په ۱۹۰۸ م کې دده د مړینې نه وروسته د ده دوو زامنو د پلار په کتابتون کې نور کتابونه هم ورزیات کړل، ان تر دې چې دا یو شتمن کتابتون شو او د څېړنو لپاره به ترینه خلکو ګټه اخیسته.

په ۱۹۵۸ م کې چې کله ډاکټر ذاکر حسېن د بهار والي وټاکل شو، نو ده د بهار په لر او بر کې قلمي نسخې او نایابه کتابونه را ټول او دې پوهنتون ته ډالۍ کړل. هغه زیاتره کتابونه د خلکو له کورونو وموندل او په پیسو به یې ترې واخیستل. ددې دوه ګټې وشوې: یوه دا، چې هغه کتابونه چې د خلکو په



کورونو کې ایښي ول، د ضایع کیدو نه وژغورل شول او بله دا چې د خدا بخش کتابتون پرې غني شو.

د ډاکټر ذاکر حسېن د هلوځلو له کبله کتابتون لپاره نوې ودانۍ جوړه شوه. په ۱۹۷۹ م کې حکومت دا کتابتون پخپل اختیار کې واخیستو او اوس ددې ټول لګښت د حکومت پر غاړه دی.

د خدا بخش کتابتون مشر ضیاءالدین انصاري راته وویل، چې اوس له دوی سره یویشت زره قلمي لیکنې اوکتابونه او دوه لکه شل زره چاپي کتابونه خوندي دي. دلته د پښتو هم یو څو د لاس لیکلې نسخې شته، چې د رحمان بابا، قاسم علي اپریدي شعري ټولګې او د پښتو فارسي قاموسونه پکې شامل دي، پسې وګرځېدو او د خدا بخش کتابتون کتاب وال ښاغلی انصاري وایي:

"د پښتنو په اړه له موږ سره ډېر مواد نشته. عباس خان شېرواني د علي ګړهـ اوسېدونکی و، هغه یو کتاب " شېرواني نامه" لیکلې ده، چې د علي ګړهـ او د هغې د شاو خوا شېرواني پښتنو اوسېدونکیو په اړه یې پکې څېړنه کړې وه. موږ د پښتو قلمي نسخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرو، چې شمېر يې ډېر نه دی، خو په فارسي کې ډېرې نايابه نسخې شته دی، چې د علمي څېړنو وړ دي. ځينې پښتانه په دې اړه د څېړنو لپاره راغلي دي او راځي، ځکه پښتنو پر هندوستان حکومت کړی دی او په ادبياتو، هنر او په کلتور کې ډېره لويه ونډه لري. داسې موضوعگانې ډېرې دي، چې بايد وڅېړل شي".



## ماخذونه

۱. پير روښان او روښاني انقلاب. سيف الرحمان مسعود. يونيورستي بک اېجنسي پېښور. ۱۰۹۸ م. ۹۷ مخ

۲. وزيرستان. لايق شاه درپه خېل. المطبعت العربيه. لاهور ۱۹۹۳ م مخ. ۱۱۲

۳. مقاله. دروښاني طريقت دلاربښود اودپښتوژبې د نامتو شاعراوعارف حضرت شاه ارزاني (رح) مزار په بهارکې دی .۲۰۰۳ م. ليکوال پروفېسور عبدالخالق رشيد دجواهرلال نهرو پوهنتون استاد. . ۱۱ ، ۲۱ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بهار اوسني پښتانه

د بهار عام خلک اوس هم د شېر شاه په نوم وياړي. دوی هغه ته د "بهار سپوت" يعني " د بهار مېړنی زوی" وايي. دلته اويا فيصده مسلمانان ځان ته پښتانه وايي او په دې کې راجپوت پښتانه هم شامل دي. د دوی د يو قام نوم هم سوري و، چې د لمر ( سوريه ) نه راوتلی توری دی. دده د حکومت او انتظام په اړه د پټنې د پوليس تانې مشر کرشن وير راته وويل، چې د هند د ماليې او د محصول نظام اوس هم هماغه د شېر شاه له خوا معرفي شوی نظام دی.

په عامو وګړيو کې هم د شېر شاه نوم ډېر يادېږي او



دده په اړه ډېرې کيسې په خوند خوند يو بل ته کوي. مهندر جسپال د پټنې يو سرکاري ملازم دی او دا کيسه يې راته وکړه، چې شېر شاه به د خپلې کلا پر بام سهار وختي ودرېدو او کتل به يې چې د چا له کوره لوګی را خېژي، يعنې معلومول به يې چې نغری پکې بل دی که نه؟. په دې کې به يې د هندو او مسلمان توپير نه کاوه، که له يو کوره به يې لوګی نه ليده، نو داسې به يې ګڼله چې پر دې کور يو څه مصيبت راغلی دی يا څوک ناروغه دي او يا د خوړو لپاره څه نه لري. بيا به يې خپل يو عسکر ورلېږه، چې معلومات وکړي او داسې چې به هر څه مشکل و، هغه به يې ورته حل کړو.

د بهار خلکو شېر شاه ته د ډېر درناوي له لامله په لوړه سترګه ګوري، خو دده په تاټوبي کې دده د مزار نه پرته بل داسې څه نشته، چې دده د وختونو حال ترې راڅرګند شي. انګرېزانو، چې دده د استوګن ځي په اړه په ليکنو کې اشاره کړې ده، د هغې اوس هېڅ نښې نه دي پاتې.

په سهسرام کې مې له پروفېسر شفق يوسفزي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه وکړه، چې آیا په سهسرام کې د شېر شاه د اوسیدو ځای یا د هغه نور اثار شته؟. هغه وویل: "د بهار شریف نه یو تن د لرغونو اثارو د شعبې نه راغلی و، چې ویل یې د شېر شاه د کورنۍ نه یم. ده پخپله په سهسرام کې لټه کوله، چې اثار پیدا کړي خو دلته یې هیڅ ترلاسه نه کړل".

ده راته وویل چې په بهار شریف کې د شېر شاه په اړه یو څه پلټنې روانې دي، ځکه هلته ده د کورنۍ خلک اوسېږي، نو ځکه د زمکې په کیندلو یې د شېر شاه د وخت پخواني لوښي تر لاسه کېږي. دا چې ولې په سهسرام کې د شېر شاه اثار نه لیدل کېږي، نو دی یې علت داګڼي، چې: " کله چې مغلو له سوریانو نه واک تر لاسه کړو، نو دوی شېر شاه ته د یو ډاکو او غاصب په سترګه کتل، له دې زیات اهمیت یې نه ورکاوه او ده د ټول تاریخ یې وران کړو. هاغه شېر شاه، چې په غرونو کې یې کلا ګانې جوړې کړې، آیا ممکنه ده چې هغه دې خپل تاریخ نه وي ثبت کړی، خو د همایون له بېرته راتګ سره دلته (سهسرام کې) د شېر شاه ټول اثار رنګ کړی شول، اوس ځیني خلک



دا څېړني کوي، خو په سهسرام کې هیڅ نشته".

د پروفېسر شفق خبرې تر یوه بریده سمې دي. په کوم ډول چې د سور کورنۍ ښځې او ماشومان ووژل شول، په دې به خلکو کې وېره پیدا شوې وي او ده د وخت لیکلي سرکاري اسناد، فرمانونه او د زمکو قوالي به یې له وېرې له منځه وړې وي. د شېر شاه د دور ځیني اثار به پخپله د بهار په کلو بانډو کې وي، خو لټه غواړي. خو دا هم حقیقت دی چې په شاړسمه پېړۍ کې په پښتنو کې د تعلیم کمی و او د لیکلو دود، په تېره بیا د تاریخ لیکلو دود نه و. دوی به د جنګ په میدان کې ډېرې تورې وهلې، خو ددې لیکلو ته نه و وزګار. کومو خلکو چې کتابونه لیکل، هغوی هم دیني لیکنې کړي دي. د سهسرام، بهار شریف او د پټنې تر منځ داسې کلي شته، چې په هغو کې له شلو نه واخله تر سلو پورې پښتني کورنۍ آبادې دي.

په بهار کې د ګیا ضلعې یوه ښاریه، چې شېر ګهاټي نومېږي چې د جنوب لوري ته د جهاړکهنډ ته نږدې ګڼو ځنګلونو سره جوخته سیمه ده. د پروفېسر عالم د معلوماتو له مخې دلته د کوهاټ اپریدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېږي او ټول کورونه د "کوټهي پټهان" په نامه يادېږي.

شير گهاټي ته نږدې د امام گنج نامتو کورنۍ د علي خان ده. د دوی کور "گلابي کوټهي" نومېږي. د کوټهي توری د انگرېزانو د کورونو لپاره کارېږي، نو دا توری ښيي چې يا خو دا خلک د انگرېزانو له خوا جوړو شويو کورونو کې مېشت دي او يا په هغه جوړښت جوړ دي. په لهواړ کې هم شل کوره د اپريديانو دي. دغسې په کوټهي کونډا کې يوسفزي او په دومړيه کې د دومړ او شيراني قام خلک پراته دي.

سهسرام ته نږدې په سکندر پور کې د لودهي باچا په نوم د شيرانيانو پنځوس کورنۍ دي او دومره ساده ژوند کوي، چې د دوی شتمن هم په د خاورو په کچه (خامو) کورونو کې اوسېږي.

همداراز د پټنې لوېديځ په سل کلومیټرۍ کې په زمانيه کې هم شپېته ـ اويا کورنۍ د پښتنو دي، چې د خټکو ټوله (ټولنه) هم پکې اباده ده. د دربهنگه په يو کلي مراد اباد کې اوس هم د پښتنو شل، دېرش



کورنه شته. دا ځای د يو روهيله پښتون مراد خان په نوم اباد شو او اوس د نور الزمان او د صديق خان کورنۍ مخوري دي. دلته راجپوت پښتانه هم اوسېږي، چې زيات يې زمکه وال دي. له گيا سره نږدې په پهاړي پوره کې ه د پښتنو لسو نه تر پينځلسو کورنۍ آبادې دي.

د پروفېسر طلحه برق د معلوماتو پر بنسټ، د بهار په ايالت کې د پښتنو کلي زياتره د گيا د ښار شا و خوا دي. د سهسرام په سيمه کې يو کلی، چې هغه ليدلی، د نواده په ضلع کې دی. دی وايي:

"هلته اوسيدونکي خلک د نورو نه بيخي فرق کوي. دوی په رنگ سپين، قدونه يې لوړ او مټې يې مضبوطې دي. دومره زمانه پرې واوړېده، خو دوی بيا هم له ليري پښتانه ښکاري. پکري د بهار شريف نه پينځه څلوېښت کلوميټر ليرې پروت دی او دلته هم هغسې پښتانه له ډېرو کلونو مېشت دي. دين نگر يو بل کلی دی، چې پښتنو پکې تراوسه خپل ژوند ته بدلون نه دی ورکړی."

د پټنې نه اتيا کلوميټر شمال لوېديځ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جگدېش پور کلی دی، چې سهسرام ته په لاره پکې تم شو. په بهوج پور ضلع کې راته دا کلی د یوې وړوکې ښارېږې په شان ښکاره شو. دلته زر کورونه دي، چې له پنځوسو څخه زیات پکې د پښتنو دي. یو بل ته ډېر نږدې ځایي خلک د کلي دې برخې ته "پټهان ټوله" وايي، چې د کورنۍ مشر اقبال وارث یې په پټنې کې اوسېده، خو د نیکونو په کور کې یې کشر ورور اسد وارث ژوند کوي.

اسد وارث خان راته وویل: " مونږ ته ویل شوي دي، چې نیکونه مو په نولسمې پېړۍ کې له غزني څخه راغلي او مونږ خلیل زي پښتانه یو.".

د وارث د کورنۍ غړي په رنګ کې ډېر سپین نه دي، خو ونې یې جګې دي. کور یې دوه برخې لري: یوه یې حجره ، چې دوې ورته "بېټهک" وايي او بله یې کور یا زنان خانه وه. د حجرې نه بهر لویه برنډه او دننه د لوېټالار شاوخوا درې کوټې ښايي په نولسمې پېړۍ کې جوړشوي وي. هغه راته وویل، چې د ماشومتوب راهیسې یې کور په همدې شکل لیدلی دی.

په بهرنۍ برنډه کې چاپېره د کښېناستو لپاره د



ډېرې ښکلې چوکۍ او ددې درې خواو ته پوړۍ وې. ددې برنډې ګس لاس ته یو باغ و، چې بوټي پکې پخپله راټوکېدلي و. اسد وارث راته وویل، چې تر ډېرې مودې دا ځای بې غوره پاتې واو اوس مو ددې صفايي پیل کړې ده.

اسد راته د خپلې کورنۍ زاړه عکسونه راوښودل، چې ځینې پکې چینجوخوړلي ول. په لوی تالار کې د هغه د پلار عکس هم و، چې په شلمې پېړۍ کې بریتنانیې ته سبق لپپاره تللی و.

کله چې زه ورسره کور( زنان خانې ) ته ننوتم، نو بهر په کوڅه کې یې نارې کړې، چې مونږ درځو. راته یې وویل چې " دا زمونږ رواج دی، چې که په کور کې څوک پردۍ ښځه ناسته وي، چې یوې ډډې ته شي". د کور دننه په برنډو کې د لرګي لوی خو ټیټ تختونه او د سرو پایو ښکلې کټونه ول، چې بالښتونه وباندې ایښي ول. په دېوالونو توري او ډالونه ځوړند ول او د برنډې د یوې څنډې نه د خوب کوټو ته لاره تللې وه. د اسد خاله هغه وخت د ماسپښین لمونځ کاوه.

اسد وارث راته وویل: " زمونږ نیکونه د مغل باچا محمد شاه پر وخت د غزني نه هند ته راغلي ول، هاغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د راجپوت د داړه مارانو د مخنیوي لپاره یو پوځ جوړ کړی و. وروسته بیا دوی ته د مغلو او انګرېزانو له خوا دا زمکې ورکړې شوې. په اصل کې زموږ زمکې سهسرام ته نږدې په بهبهوه نومې ځای کې دي او په پرګنه کې مو ریاست و. سره له دې چې حکومت په زرعي اصلاحاتو کې رانه زموږ ډېرې زمکې واخیستې، خو د خدای په فضل اوس هم کافي زمکې را پاتې دي. زما پلار له دې ځایه د پارلیمان غړی انتخاب شوی و".

دجګدیش پور زمکه ښېرازه او شنه ده او خلک یې په کر کرونده ژوند کوي. په نولسمې پېړۍ کې د مغلو سلطنت کمزوری شوی و او په هره سیمه کې بې امنیتي وه، په دې لاره به چې د حکومت د مالیو راټولوونکي تېرېدل، نو د غلو او ډاکوانو له لاسه به لوټل کېدل. ځینو ښې منظمې ډلې لرلې، چې د سیاسي ځواکونو لپاره به یې هم دا کار کاوه. په دوی کې یو راجپوت بابو کنور سنګهـ هم و، چې وروسته یې بیا له انګرېزانو سره ډغرې وهلې.

جګدیش پور یو له هغو کلیو څخه و، چې بنګال ته تلونکې لویې لارې ته نږدې پروت و. ښایي د وارث



کورنۍ په څیر ځینې نورې پښتنې کورنۍ هغه وخت دلته مېشت کړې شوې وي، چې د لارې د امنیت وساتي. تر ۱۸۵۷ م پورې دې خلکو د لارې ساتنه کوله او مغلو ته یې کاروانونه خوندي تېرول، چې ددې په بدل کې ورته جاګیرونه ورکړې شول.

کله چې د انګرېزانو نه د خپلواکۍ لپاره پاڅون (غدر) وشو، نو عامو خلکو د انګرېز پر ضد وسله راواخیسته او ددې سیمې پښتانه هم په دوو ډلو ووېشل شول. یوه هغه وه، چې د انګرېزانو پر ضد جنګېدل او دوی له بابو کنور پرتاپ سنګهـ سره مل شول، نورو د بیا د انګرېز متې مضبوطې کړې.

یو ځل بابو کنور سنګه د یو پښتون په کور کې پناه واخیسته او کله چې انګرېزانو کور محاصره کړ، نو د هغه کونډې اسلحه راواخیسته او پخپله د جنګ لپاره له کوره راوتله. ځایي خلک دا کیسه ډېر په جوش او خوند کوي، دا مېرمنه حاجي بېګم نومېده، خو معلومه نه ده چې د کوم قام وه؟.

په پټنې کې مې د اسد وارث خان د مشر ورور اقبال په کور کې دده او د کورنۍ خبرې واورېدې. د دوی د کورنۍ ټول سړي په ښې غوږ کې د سرو زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



والۍ اچوي. ده باور لاره، چې د پوځ جنرالانو به دا په غوږ کوله او له هم هغه وخته له دوی سره دا روایت پاتې دی. اوس ددی خبرې پخلی ممکن نه دې. د وارث کورنۍ ټول سړي شپږ فټه قد لري. د اقبال دوه زامن او دوه لوڼه دي. ، جلال او بلال، راحیل او افرین. دده کونډه خور در غزني له خپل واده کړي زوی سره د دې لوی کور په بره پوړ کې اوسېږي.

در غزني د شپېتو کالو ده او د سپین رنګ او نیلا سترګو له کبله نازکه ګوډۍ ښکاري. هغې راته د خپل کورني روایاتو په اړه وویل، چې اوس هم ساتل شوې دي.

دوی سخت مذهبي خلک دي، خوکه د واده لپاره که څوک دده لور غواړي، نو دی یې د شجرې پلټنه ضرور ګڼي. د خپلې کورنۍ شجره یې ساتلې او هېڅوک پکې ګوتې نشي وهلې.

د واده خواست د هلک دکورنۍ له خوا کېږي او د جهېز (پسول) غوښتنه هېڅ نه کېږي، که د جینۍ کورنۍ مالداره هم وي، د جینۍ کور د مهر غوښتنه کوي او که هر څومره مهر ټاکل شوی وي، د نکاح پر وخت به د جینۍ پلار ته هرومرو د سرو زرو دوه



سیکې د سپینو زرو په تال کې ورکول کېږي. د نورو زمکو او پیسو غوښتنه نه کیږي.

در غزني راته وویل، د واده پر وخت ناوې ته اوربل جوړوي او کله چې د مور پلار له کوره وځي، نو په ډولۍ ورته وریجې او سیکې شیندي. د ماښوم د زېږېدو پر مهال دوی ډزې کوي، څلور ډزې د هلک لپاره او درې د جینۍ لپاره.. په کلیوکې پښتانه اسلحه هم لري، چې د هغې سند ورسره وي. د شپې ښکار کوي په واده او نورو موقعو ډزې هم کوي.

اقبال خان راته وویل، چې په امام ګنج کې پښتانه ډېر شتمن نه دي، خو ځینې دودونه یې پخواني دي. د اقبال وارث له کورنۍ سره خبرو پر وخت دده کشره لور افرین هم ناسته وه، چې د شلو یویشتو کالو وه. د مشرانو په خبرو کې یو څه ځنډ راغی، نو هغې ووېل: " اوس خو دویم نمبر پښتانه هم ډېر شوي دي" ما ترې ددې خبرې سپیناوی وغوښت، نو ویې ویل: "ځینې کسان پښتانه نه وي خو له خپل نوم سره خان لیکي" بیا یې مثالونه راکړل، چې د هندي فلمونو نامتو ستوری عامر خان اصل پښتون او ددوی خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او پخپل کورني البم کې يې راته د هغه عکس هم راښکاره کړو.

راته يې وويل: "دا نور اېکټران، سلمان خان او شاه رخ خان خو پښتانه نه دي او له خپل نوم سره خان ليکي." ما ترې پوښتنه وکړه چې په دې کې د هغې څه اعتراض دی؟ نو راته يې وويل: " دا غلطه خبره ده، نور خلک پرې دوکه کېږي، زمونږ کور ته يو هندو راتلو چې څه موده وړاندې يې زما د پلار په لاس اسلام قبول کړو او نوم يې هم بدل کړو. اوس هغه سړی له خپل نوم سره "خان" ليکي".

د افرين په دې خبرو يې مشرانو ورته څه ونه ويل، خو اقبال وارث وويل چې د بهار مسلمانان ځان مظلوم احساسوي، دلته پښتنو ظالم پر ضد توره رااخيستې ده، نو کېدای شي دوی يو ښه شناخت غواړي او خان يوه ښه مانا ورکوي.

دگيا او سهسرام په پنځوس کلوميټرۍ کې د جهان اباد کلی دی. پروفېسر محمود عالم د ملک کورنۍ نه دی او هلته په کلو کې يې د پښتنو د ژوند يو څرک راښکاره کړو. هلته د شمشېر زنۍ او کشتي ( غېږې



لوبه) اوس هم کېږي. دلته پښتانه سني عقيده لري، خو د محرم په لسمه جلوس وباسي او تعزيه وړي. د محمود عالم په کورنۍ کې د ودونو په موقع ډېر پخواني دودونه تر ډېره وخته عملي کېدل، خو اوس يې ورو ورو د نوي زمانې او د هندوانو رسمونه خپل کړي دي، ان تر دې چې د واده په موقع هلک ناوې ته په وېښتو کې سيندور(سور رنګ) هم لګوي.

بيا هم د کلو ژوند دومره نه دی بدل شوی. په جهان اباد کې د واده نه دوه يا درې ورځې وړاندې د ناوې د خور مېړه د سپېده چاودې نه وړاندې يوه توره په لاس د کلي کوڅې ته راوځي، ده سره د ناوې خوېندې او نورې نا واده جينکۍ چې يو منګې ورسره وي هغه کوهي ( څاه) ته ورځي، چې تر ټولو خوږې اوبه لري. هلته دا سړی د کوهي نه اوبه راباسي او جينکو ته منګي ورډکوي. د تورې په سر يوه مڼه يا د خوږو ټوټه ددې نښه وي، چې دا د جنګ لپاره نه ده راوېستل شوې. په هغه ماپښين د ناوې د کور په انګڼ کې يوه لوړه چوکۍ ږدي او ناوې بهر ته راباسي. بيا مېږوښې ښځې د منګي په اوبو د ناوې وېښته مينځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بهار د پښتنو په هر واده کې يو څودوديزه سندرې ارو مرو ويل کېږي. يوه سندره داسې ده: "ياد کرو کهوم" پروفېسر عالم وايي، چې دا سندره په اصل کې "ياد کرو قوم" ده يعني "خپل قام ياد وساته".

د واده د ډوډۍ لپاره ټول کلي خبروي او ددې لپاره د کلي ډم په لوی مېدان کې نغاره ډنګوي. د واده ډوډۍ يوه شپه وړاندې په پخولو پيل کېږي. ددې لپاره په زمکې کې څو کندې جوړوي او اورونه پکې بلوي. د غوښې لويې لويې ټوټې د خاورو په لويو کټويو کې ټوله شپه پخېږي. په بله ورځ هم هلته په تناره خمبيره ډوډۍ پخوي او له غوښې سره يوځای يې مېلمنو ته ورکوي. پخوا به يې ودونو کې داسې وريجې پخولې، چې وچه مېوه به يې لرله لکه بادام، غوزان او کشمش خو اوس دا شيان ګران دي او نه موندل کېږي، نو په وريجو کې شنه چنه (نخود) ګډوي او داسې وريجو ته کبولي (کابلي) وايي.

دوی ډوډۍ خمبيره کړي، بيا غټې پېړې جوړې کړي او په تبۍ يې کيږدي، چې لږه کلکه شي نو په اور يې وريتوي. وروسته يې د غوښې له ښوروا سره



خوري. دوی غوښه هسې هم ډېره خوري او د پلاو نه علاوه چلاو هم پخوي، روغني ډوډۍ په خاصو موقعو پخوي.

د بهار يو بل پوځي مشر چې د دوی په ځايي ژبه کې په سندرو لمانځل کېږي، د ملک ابراهيم د بېا (بيو) په نوم شهرت لري. پروفېسر عالم راته يوه بېلګه راکړه. وايي: "پچهم سې ملک بېو ايې، سوي لاې سانګ لاې" (د لوېديځ لوري نه ملک بيو راغی، ستن او تار يې راته راوړل)

دی په ١٣٣٩ ميلادي کال کې د افغانستان له غزني څخه هند ته راغلی او د سلطان محمد بن تغلق د پوځ يو جنرال و. ځينې تاريخونه وايي، چې د ملک لقب بيا ده ته سلطان تغلق له خوا ورکړی شوی و. وروسته دی د بهار والي وټاکل شو. دده مقبره د بهار شريف په يوې غونډۍ جوړه ده او دلته يې خلک هم هاغسې ګڼي او د نورو صوفيانو په څير يې لمانځي. د ملک بيو په اړه څېړنې نه دي شوي او د ځايي خلکو له خوا هره کيسه د منلو وړ نه وي.

په بهار کې ددې صوفيانو او د سور کورنۍ د مقبرو له کبله هغه خلک، چې ځانونه پښتانه ګڼي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې د دوی مشران له غزني ورغلي ول. داسې ښکاري چې له دې نوم سره د پخواني عظمت د تړاو له کبله خلکو ته ددې يادونه اسانه ده. دويمه دا چې د بېوزلۍ او د غربت له کبله عام خلک د خپل راتلونکي په اړه اندېښمن وي او د دوی لپاره ارزان او اسان ځای کور ته نږدې نامتو زيارت وي، چې دوی پرې عقيده لري.

ددې ثبوت د پټنې د ځينوکوڅو نومونه ول، چې هلته د اوسيدونکي قام په نوم يادېږي لکه لودي کټړه او لواڼي ټولنه. په هر يو محلت کې يو زيارت شته اود پښتنو نورې کوڅې د دوی د پيرانو په نوم شهرت لري، لکه پير باهورمحله. د دې پير په اړه وايي، چې دی له شاه ارزاني سره يو ځای راغلی و. شاه تکه، بتاو گنج، (بتاو ځاه يا کوهي ته وايي) ، کچي او پکي درگاه (کچه او پاخه زيارتونه) چې دا ټول هم د گنگا پر غاړه پراته دي، دلته اوسيدونکي ډېر شتمن نه دي، خو ځينې روايات يې اوس هم ساتلي دي. په کورونو کې د مېلمه د هرکلي پر وخت ورته خوشبوي (عطر) لگوي. د مېلمنو لاسونه په چېلمچي کې مينځي او تر خپله وسه يې د مېلمه پالنې دود په ځای



ساتلی دی.

له دې عقيدې سره سره د عامو زيارتونو وضع ښه نه ښکاري. پخپله د ارزاني د مزار چار چاپېره د په گرځيدو اندازه کېږي، چې هر کال دده د عرس په موقع دلته په زرگونو خلک راټولېږي او دکانداري کوي. ډېری خلک ورته چنده (شکرانه) هم ورکوي. که ددې پېسو څلورمه برخه هم ددې د رنگو دېوالونو په سمولو او يا دلته د ونو په کرلو ولگول شي، نو د بهار شريف د زيارت په ښېر به شي.

شاه حسين راته د خپلو مشکلاتو او د ځينو مجبوريو خبره وکړه، ولې زيات تفصيل يې راته ښرگند نه کړو.

په بهار کې د پښتو ژبې ويونکيو شمېره لږه ده، هغه چې اوس د افغانستان نه پټنې ته ځي راځي د پېسو په کاروبار يا د وچې مېوې په تجارت بوخت دي. يو څو پکې ډېر شتمن دي، خو تعليم يې نه دی کړی. خلکو ته په پور پېسې ورکوي او بيا يې له سود سره يو ځای ترې اخلي. خبر نه دي، چې دلته د پښتنو د تېر عظمت نښې اوس په څه حال دي؟ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه

د بهار د سیمې یو شمیروګړي

## یادونه او مننه

په بهار کې د ځیرنو لپاره د جواهر لال نهرو پوهنتون کې د افغانستان استاد عبدالخالق رشید او د ډاکټر اخلاق انصاري، د شاه ارزاني د درګاه متولي پروفیسر شاه حسین احمد، د ارزاني د مدرسې طالبانو، د پټنې د پوهنتون پروفیسر طلحه برق او یو شمیرنورو استادانو، د خدابخش کتابتون مشر، د سهسرام پروفیسر شفق یوسفزي د جګدېش پور وارث کورنۍ او نورو پښتنو نه مننه کووم. په سهسرام کې د منا سنګه راجپوت هم مننه چې کله د شیر شاه سوري مقبرې ته مخامخ زما کیمره بنده شوه نو ده راته پخپل کیمرې عکسونه واخستل او راپسې یې راوړل.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**